۱۳۵۰/۶
۹/۷۱ علمی
۱۳۵۰ (۶
شنبه



کندهار

اعلیحضرت شهید سعید محمد نادر شاه غازی

دخپلواکی دبیرته اخیستلو د معرکی
سترقهرمان او د هیواد ناجی

زموږ محبوب ټولواک همایونی معظم
اعلیحضرت د هیواد د خپلواکی ستر حامی چی
د شاهانه ذات ترقیادت لاندی دژوند په ټولو
مادی او معنوی برخو کی د ګران افغانستان
لوی انکشاف په برخه سوی او اوس هم
زموږ هیواد د لوړتیا پرخوا
چټک ګامونه اخلی

د کندهار مجله

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
د مسؤل مدیر وکیل: غلام محی الدین (ایوبی)

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

اداره: د شهیدانو واټ

د تأسیس کال ۱۳۳۹
د دولسم کال شپږمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۲

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی

د هیواد په داخل کی [۳۲]

په د باندنیو هیوادو کی یوډالر

د وږی میاشت
۱۳۵۰ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

زموږ د خپلواکی تلین	۱ مخ
د پښتونستان آزادی	۲ مخ
دوړ کو روزنه ...	۳ مخ
محیط او دهغه تأثیر په روزلو کښی	٤ مخ
بشر په آینده کښی د فضا نوردی ...	٦ مخ
دوړو کو د جشن مفهوم	۹ مخ
دین د اجتماعی ژوند د هوساینی ضمانت کوی	۱۰ مخ
د مزار شریف د روضی کوتری	۱۱ مخ
بست که لښکرګاه؟؟؟	۱۲ مخ
د ادب ګلونه	۱٤ - ۱۵ مخ
درهٔ نور	۱٦ مخ
څرنګه د غوماشو څخه ځان وساتو	۱۹ مخ
پوهه میندی	۲۳ مخ
څه ډول د ناآرامیو سره مبارزه	۲۵ مخ
د ساری امراضو مخنیوی	۲۷ مخ
دژبو تاریخ	۳۰ مخ
شکرچی افغان یم استقلال لرمه	د پشتی دریم مخ

زموږ د خپلواکۍ تلین

انسان خپلواک پیدا شوی او داحق لری چې خپلواک واوسی او د خپل دغه حق څخه دفاع، کورنی، او ټولنې د پرمختګ، نیک مرغۍ او ښه ژوند په لارکښې کار واخلی او په خپل هیواد کښې د خپلواکۍ او ملی ژوند څخه مستفید شی.

لکه څرنګه چې د خپلواکۍ ګټه د قربانۍ او وینې تویولو په بدل کښې لاس ته راغلې او غیرتمن ولسونو خپل دغه ستر نعمت د ځوانانو د برچې په څوکه او د موټ په زور خپل کړی او ځانونه ئې تل تر تله خپلواک ګرزولی دی دغه رنګه د ملی خپلواکۍ ساتنه هم میړانه، فداکاری، پوهه او هوښیاری غواړی.

په اوسنی منور او د کار او فعالیت په عصر کښې هغه کامونه او ولسونه د خپلواکۍ او ملی ژوند څخه ګټه اخستلای او د نیک مرغۍ ژوند سرته رسولای شی چې د یوې خوا ئې په خلکو کښې پوهه او درایت پیدا شی، علمی او معنوی سویه ئې لوړه شی، ناپوهی او بې سوادی ئې د ټولنې څخه کوچ وکړی او د ملی خوائې خلک کار او فعالیت ته ملاوتړی او په دې ډول ځانونه د نورو د اړتیا څخه وساتی او خپل فردی او ملی اقتصادیات پرېښوودروی.

موږ افغانان چې د نیکه مرغه اوس د خپلواکو ملتونو په قطار کښې ځای لرو، د خپلواکۍ مینه زموږ په خټه کښې اخښل شوی او زموږ ننګیالیو پلرونو او تورپالیو نیکونو دغه ستر خوی په میراث راته پرې ایښی او دغه خپلواک هیواد ئې دیوه ستر امانت په حیث موږ ته سپارلی او په کار دی چې موږ د خپلو زړورو پلرونو بهترینو زامنو په صفت دغه ستر امانت او د ژندلوړ نعمت وساتو او دهغه د خوندی کولو په لارکښې د هیڅ ډول فعالیت کار، تکلیف، فداکاری او صداقت څخه ډډه ونه کړو.

د خپلواکۍ د تلین نمانځنه د دې لپاره نه ده چې موږ یواځې خوشحالی وکړو بلکه دا د هغه ستر ویاړ او ملی غرور یاد ونه ده کوم چې زموږ ننګیالیو پلرونو د فداکاری او سربښندنې په برکت تر لاسه شوی او د هغه په ښه توګه ساتنه او راتلونکی نسل ته سپارنه هم د غسې ویاړ زموږ په برخه کوی.

که ځوان خپلواکۍ د میړانې، غیرت او سربښندلو په زور خپلیدله خو اوس د کار د پوهنې، روزنې، عصری کمالاتو ساینس او تخنیک په برکت خوندی او خپلواک ژوند څخه ګټه اخستل کیږی نو اوس موږ ته په کار دی چې د اوسنی عصر د ایجاباتو او مقتضیاتو سره سم ملی ژوند ته دوام ورکړو خپل اجتماعی او ملی چارې په ښه توګه سامبالی کړو او خپل هیواد په اقتصادی او علمی لحاظ پرمخ بوزو.

نن د خپلواکۍ ساتنه او د دغه ستر ملی ویاړ خوندی کول داغواړی چې موږ ټول د مرفه او مترقی ژوند خاوندان شو، له هیواد څخه لوږه، رنځ، یو پر بل ظلم کول، اقتصادی نیمګړتیاوې، بې سوادی، ناپوهی او داډول نور اجتماعی مفاسد د منځه لیری کړو.

هو موږ د هغو غیرتمنو افغانانو اولادیو چې خپلواکۍ ئې را ګټلې او ساتلې او هغو په خپل عصر کښې د میړانې او غیرت لوړ زړوری ګڼو موږ هم د خپلو ننګیالیو پلرونو پر پل کام ږدو او غواړو چې د اوسنی عصر د ایجاباتو له مخه خپل ملی حاکمیت د علم،

(نور په ۲۹ مخ کښې)

ایو بزی: د پښتونستان دورځی له کبله:

د پښتونستان آزادی

پښتونستان د اتو ملیونو پښتنو او بلوڅانو آبائی هیواد او د پلرونو او نیکونو مسکن دی، پښتونستانیان پدغه خاوره کښی د پیړیو پیړیو راهیسی اوسی او ځانله جلا کلتور، نژاد، عنعنات، تاریخ او نور ملی ممیزات لری.

څه د پاسه سل کاله دمخه چی برتانوی استعمار د هند پرلویه قاره تسلط درلود د پښتونستان خاوره ئی د افغانستان څخه بیله کړی او پرهغه ئی هم د برچې په څوکه حکمرانی کوله او هر کله چی برتانوی استعمار دغه لوی هیواد خوشی کاوه نو هغه ئی د پاکستان او هند په هیوادونو وویشی او د پښتنو او بلوڅو سرنوشت ئی پرته د دغه ولس د اکثریت د فیصلې څخه پاکستان ته وسپاره.

د پښتونستان ولس د هغه تاریخ راهیسی بیا د خپلواکی په مجادلو لاس پوری کړی او ملی مشرانو او مجاهدینو ئی پدغه لار کښی ستری فداکاری کړی او د خپلواکی هلی ځلی ئی تر اوسه پوری جاری ساتلی دی.

خپلواکی د هر ټبر مشروع بشری او بین المللی حق دی او د ولسونو دا د خپلی ارادې حق ټولو نړۍ والو مثلی او هیڅوک او هیڅ طاقت نشی کولای چی د ملتونو دا حق په زور تر ډیری مودې پوری غصب کړای شی.

پښتونستان خپل تاریخ، جغرافیائی موقعیت او بیل قومیت او ملیت لری، د پاکستان د نورو ملتونو سره نه ګډیږی او هیڅکله نه غواړی چی ځان په نورو قومونو کښی منحل او د تل د پاره د منځه یوسی.

افغانستان یو آزاد او سوله غوښتونکی هیواد او د ملتونو د آزادۍ پرخوا دی او په تیره بیا کوشش کوی چی د پښتونستان په وینه، تاریخ، ادب، کلتور او ملیت شریک ورورئی د خپلواکی د ملی او بشری حق څخه ګټه واخلی او پخپله خوښه او سلا خپل ملی ژوند وکړی او خپل سرنوشت د آزاد قضاوت دلاری فیصله کړی.

د پښتونستانو محکومول او هغه تر ډیره پوری پا اسارت کښی ساتل هیڅ امکان نه لری، همدغه سبب دی چی نن پدغه ولس کښی د خپلواکی جذبه پاریدلی او سیاسی شعور ئی بیدار شوی او په هیڅ توګه دا نه منی چی د خپلی ارادې ملی حق ئی تلف او د منځه ولاړ شی.

دا چی څو کاله دمخه د پښتونستانو یو زیات شمیر ملی مشرانو او مجاهدینو په کابل کښی غونډه کړی او تر سلا او مشورې وروسته ئی د آزادۍ حاصلولو د پاره ملی تړون او هوډه وکړه دا دی د هغی نیټې راهیسی دغه ورځ د پښتونستان دورځی په نامه هر کال نمانځل کیږی.

پښتونستان یو حقیقت دی د دغه حقیقت څخه سترګی پټول د غاصبانو او استعمارچیانو خوی دی او هغه ورځ لیری نه ده چی د پښتونستان ننګیالی ولس د پښتونستان د حقیقت ډیوه د فداکارۍ او وطندوستۍ په زور وځلوی او د خپلی پاکی خاوری څخه د استعمار او استثمار توری تیارې لیری کړی.

پښتونستانیان د خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان او داسی نورو سترو مشرانو په څیر فداکار او وطندوست لارښوونکی او مجاهد ځوانان لری او کولای شی د خپلو ملی مجاهدینو په فداکارۍ خپله خاوره خپلواکه او خپل سرنوشت په خپله په لاس کښی ونیسی او د بهترین ملی خپلواک ژوند څخه ګټه واخلی.

آزاد دی وی پښتونستان.

غ «انډیوال»:

د وړو کو روزنه او پالنه

د وړو کی ذهن دلندې لېښتی
په ځیر دی چې هر ی خوا ته ئی
کېږ وی هغی خوا ته اوړی، او که
د کوچنیوالی ځخه ئی روزنه او

معنوی پالنه ونه شی او اخلاقی
خوا ته ئی پام وانه وړی د هغه
وړو کی په ذهنیت کښی منفی
افکار او ناوړه خویونه ځای

نیسی او ورووړو فسادی او بد
اخلاقه ځنی جوړیږی او نه یواځی
ئی ژوند دځان په ګټه نه وی بلکه
دخپلی ټولنی دزیان او شر سبب
هم ګرځی.

مور د وړو کی لومړی او
بهترین مربی او کور د هغه
اولینه مدرسه ده، هغه تعلیم او
زده کړه چې وړو کی د کور په

محیط کښی دخپل دغه خواخوږی
او مهربان مربی ځخه اخلی او هغه
اغیزه چې دغه روزنه او نمود او
پلاد کړه وړه، افکار، او کوږنی

حالات ئې د وړو کو برذهن او
دماغ چندی دژوند په وروستیو
وورو کی دومره ذیات اړزښت نه
لری، بلکه د کور روزنه او افکار

ئې د وړو کی د طبیعت جزء
ګرځی.

وړو کی که تن د خپلو
والدینو، کورنیو مشرانو او د
کور د نورو غړو مرستی ته اړدی
او اوس دیو جزئی کار د کولو وس

او توان نه لری، سپاچی لوی شی دهیواد
راتلونکی سرنوشت ورته سپارل کیږی
او همدغه دنن ورځی وړو کی دسپا

ځوانان او بیغلی دی او دټولنی هیله
دهغو فعالیت، وطندوستی، صداقت او
فداکاری خوا ته اوړی.

وړو کی دمور او پلار دواده او
ګډژوند دونی خوږه میوه او نهال دی
او والدین کولای شی چې دغه نهالګی

په ښه توګه وروزی او ترثمره ئې
ورسوی خو چې میوه ئې دوی او دټولنی
نورغړی وخوری.

کومو کسانو چې د خپلو وړو کو
پوهنی، روزنی او اخلاقی فضایلو ته
پام نه دی اړولی او هغوی ئې خپل سرته

پری ایښی او یا ئې د فساد او ګمراهی
خوا ته بیولی دی نو زیان او شر ئې فرد
او ټولنی دواړو ته رسیدلی او خپل ژوند
ئې هم په تکلیف او تریخ شویدی.

کومه مور چې د کور په دننه انتظام
او سرچینه سرپېره دخپلو وړو کو په
روزنه کښی ډیر زیار باسی او پدغه هیکله

خپله خدائی او ملی وجیبه سرته رسوی
دهغی مقام د اسلام او ټولنی په نزد د
ډیر قدر، ستاینی او نمانځنی وړدی او

برهای دی چې پداسی مور خپل روزل
شوی زوی او تربیه شوی لور ویاړ
وکړی.

د وړو کو د روزنی د اجتماعی اړزښت
له کبله دی چې لری والو د وړو کو

دپاره یوه خاصه ورځ ټاکلی او
پدغه ورځ پښ نورو ګټورو
پروګرامونو سربیره هغو
وړو کو ته جایزې ورکوی چې
دروغ او سالم وی او نظافت ته
ئې پام اوښتی او ترنورو وړو کو
امتیاز ولری.

مور باید هیڅکله دخپلو
وړو کو په تعلیم، تربیه او کمالاتو
کښی کوتاهی ونه کړی او پرې
نږدو چې دغه ګل خودرویه لوی
شی او یا ئې دمحیط او تر اکور
دباندی تربیه خرابه اړدی نالوړه
اخلاق خاوند کړی بلکه باید
پدغه لار کښی سربیره بردې چې
ښوونځی ته ئې واستوی تل ترتله
ئې مراقبت او د اخلاقو، افکارو
او اعمالو عادت ته هم وکړی.

مور باید خپل وړو کی د
هغو د راتلونکی زمانی دپاره
وروزو او هغسی افکار او خیالات
پکښی پیدا کړی چې ددوی دعصر
دپاره په ښه ورځی.

په وړو کو کښی دوطندوستی
ملیت پروری او دیانت احساس
پیدا کول او د هغو اخلاقو ته
پام اړول د عصر غوښتنه او ستر

خدمت دی او وطندوستان او
واقعی منورین داکار کوی او
ددغه ستر کار تر عهدی په ښه
توګه وزی.

محیط او دهغه تأثیر په روزلو کی

پخوانی پوهان په دې عقیده وه چې محیط دخلکو په وده او دهغوی په نوعیت کښې لوی تأثیر اومهم نقش لری حتی دغه پوهان وائي چې دمحیط د بدلون له امله

نه یوازې نوعیت تغیر خوری بلکه غیرعضوی ماده په عضوی ماده هم تبدیلیږی هر نګه چې محیط دحیوانانو دپیدا کیدو پرنوعیت او دهغو پرژوند باندی تأثیر اچوی نو دانسانانو په

وده کښې هم تأثیر لری. لکه څنګه چې ډیر په دې عقیده دی چې وائي دانسانانو دپوست او دنګ کیفیت دلمر په تودوخه اړه لری او دهغوی ګیټ والی. او

اوږد والی دخولړ کونو په کمیت پورې تړلی دی همداراز نګه ترو والی او ښکته والی دلحم په تودوخه او دهغو او په نوعیت کښې دی حتی وائي چې تربیه دعقل او استعداد

په ډیر والی یا کموالی کښې مهم رول لری یعنی دسمې تربیې په اثر استعداد او عقل ډیروالی کوی او دبدې تربیې له امله عقل او استعداد نقصان موهی او کموالی پیدا کوی

لکه دا چې دغه کسان د خلکو ټول ممیزات دمحیط په بیلوالی کښې ګڼوی.

د ۱۷ او ۱۸ قرن دفلسفی پوهانو هم دغه عقیده ګینګه کړی ده او لیکلی:

چې دمحیط، دتربیې، نوعیت او سیستم د انسانانو په پیدایښ کښې لوی تاثیر لری دوی وائي ټول انسانان په یوه ډول دنیا ته راځی خو کوم شیان چې ددوی د اختلاف او توپیر باعث ګرځیدلی دی هم هغه دمحیط بیلوالی دحوادثو او دژوند دشیانو توپیر دی.

دامام غزالی [رح] دځینو نظریو څخه داسی پښکاری چې دغه لوړ شخصیت هم ودغه ډول نظر یو ته میل درلود ځکه دی وائي (کوچنی یو نفیس او

ساده جوهر دی چې په هغه کښې هیڅ ډول نقش نشته خو دهر ډول نقش قابلیت لری) «ابن خلدون» هم دخپلی مقدمی یو فصل ودغی برخی ته وقف کړی او ددغی موضوع د تائید لپاره ئې ډیر دلائل راوړی دی.

«دیکارت «پخپله» یوه مشهوره مقاله کښې لیکلی دی چې زمږ دفکر او عقیدو اختلاف ددې دلیل نه دی چې دځینو عقلونه قوی او دځینو داضعیفه دی بلکه ددې اختلاف منشاء یوازې

زموږ مختلف رویشونه دی یعنی موږ ټول یو، غایه او یو مخصوص غرض نه تعقیبوو.

«روسو» «جان لاک» او «آدم سمیت» هم ددغو لوړو نظریو دخاوندانو څخه دی.

دوی بیړی مخته دمتحده ایالاتو داستقلال دروحیی منشأ هم دغه جمله وه چې ویل به ئی. (ټول انسانان په پیدایښ او استعداد کښې برابر دی) دغی مقکوری په دوام داده تو ګه د

دیموکراسی حکومتونو دجوړښت اساس منځ ته راوړی دی او په ټولو طبقو کښې ئی دتربیې دعمومیت ذهن په مساوی ډول پیدا کړیدی او دغه مفکوره دیوه واحد دین دپیروی مهم عامل هم بلل کیږی دوی وائی چې دتمدن معنی دیوه

محیط داحوال بنه کیدو دی او په مدنیت کښې دوړاندی والی او پرمختګ مفهوم دمحیط اصلاح کول دی او بس.

پورتنی نظریه تر اوسنی عصر ترسیدو پوری څو پیړی دنړی پرمخ باتې شوه خو نننی عصر دعلم او فلسفی په برخه کښې نوی اړخونه منځ ته راوړل

اجتماعی علوم خپاره شول او پوهانو په یوه سلسله خپرو او مطالعو بیل وکړ ډیرو تجربو وروسته دبیالوژی دعلم پوهانو داثابته کړه چې دمحیط تأثیر

نسبت دوراثت وتأثیر ته ډیرلږ دی او هیڅ بومحیط نشی کولای چې غیرمادی عضوه په مادی عضوه تبدیل کړی خو بیاهم د اوسنی عصر دبیالوژی دعلم پوهان د

محیط له تأثیراتو څخه منکره نه دی هغه بیخه چې دوې پیړی دمخه هر ګنده شوه دمحیط تأثیر ئی به پښکاره ډول اثبات کی بیخه داډول وه:

دهند په شمال لویدیځو برخو کښې

دهنګلو په ما بین کښې داسې ښرمښانو ژوند کاوه چې کله کله به ئې پرشاوخوا نژدې کلیو باندې حمله کوله او په نتیجه کښې به ئې ځینې کوچنیان وخوړل او ځینې به ئې له ځانه سره بوتلل او هلته به ئې دخپلو بچیانو په شان روزل .

یوه ډله بشر دوستان چې له دغو پیښو څخه خبر شول په دې لټه کښې شول چې باید دغو کوچنیانو ته نجات ورکړی او دښرمښانو دمنګلو څخه ئې وباسی دوی پخپل دغه عزم کښې پسله ډیرو تکلیفو او سختیو حتی نزدیؤ چې خپل ژوند هم له لاسه ورکړی په دې بریالی

شول چې ځینې ژوندي کوچنیان ددوې له منګلو څخه خلاص کړی دغه کوچنیان چې د وحشي کوچنیانو په نامه یا دشرمښانو د کوچنیانو په نامه یا دیدله دوی دشرمښانو د بچیانو په څیر خونه درلودل او دځیروونکو حیوانانو پیښې ئې کولی کالی ئې څیرل او د یوازې والی ژوند ته

ئې هڅه کوله په تاریکو ځایو کښې به غزیدل او د شرمښانو په شان به پریوتل ډیرو وګړو کوښښ وکړ چې دوی دانسانانو په شان وروزي انساني ادب او تهذیب ورته وښئي خو په دغه کار هیڅ بریالی نشول صرف دونه ئې وکړای شو چې په هغو کښې د اطاعت او فرمانداري روح قوي کړی درد، راحت یا دشیانو دغو ښتلو په وخت

کښې ځینې مخصوص آوازونه وباسي پروفیسر فلانتین بول پخپل کتاب کښې چې (ژوندون د هند په یغما ګانو کښې) نومیږي لیکلی دی (هغه کوچنی چې «سانیخار» نومیده او دیوه تن هندي له خوا په یوه غار کښې پیدا شو او په نیټه ٤-٢-١٨٦٧ دارالمساکین ته ورکړه شو داسې لیکي:

ددغه کوچنی په وجود کښې د بیعقلي نښې موجودي وې دتندي کنجي ئې ناموزوني او ټول حرکات او سکنات ئې په وحشیانه ډول اجرا کوله او کله کله به ئې خپل غاښونه دیوه څیرونکي حیوان په څیر ښکاره کول دشیانو دپیژندنې لپاره ئې دسامعې او شامې حواس پکار

اچول او دذایقې څخه ئې ډیر کار نه اخیست او هیڅ ممکنه نه وه چې بیله یوه ټینګ مراقبته څخه په یوه کار مشغوله پاته شي مثلا کله چې به یوه ټکرۍ په لاس ورکړه شوه تر څو چې به تر مراقبت لاندې ؤ ټکرۍ به ئې په لاس کښې نیولی وه خو کله چې به دمراقبت څخه ووت نو ټکرۍ به ئې دستي ایله کړه لاسونه ئې ٧٤ سانتي متره اوږده

وه څو په څلورو هم تګ وکړای شي دتګ په وخت کې به ئې خپل سر راسته او چپه خوا وته ګرزاوه او څیر څیر به ئې کتل کله کله به دتګ په وخت کښې نا ببره داسې ودریدی چې چا به ویل پر کوم دښمن دحملې کولو

خیال لري په همدې ډول ئې ٢٩ کاله ژوند وکړ او په ١٧٩٦ ع کال مړ شو .

دبیالوژي دعلم پوهانو پر تناسلي سلولونو باندې تر القاح دمخه او تر القاح وروسته ډیري تجربې کړي دي او هم ئې دحیوانانو (جنینونه) په مختلفو وختونو

کښې تر ازموینې لاندې نیولي دي خو تر ډیرو تجربو وروسته ودې نتیجې ته ورسیدل چې محیط دحیوانانو دضعف او قوت په وده کښې خورا ډیر تأثیر لري .

پروفیسر (کنکلین) په خپل باارزښته کتاب کښې چې د(محیط او وراثت) په نامه دي پر دغه موضوع باندې ښه رڼا اچولی ده او په دغه باره کښې ئې ډیر مثالونه ذکر کړیدي دي وائي چې په تناسلي سلولونو او په جنینو کښې خارجي مصنوعي تأثیرات ډیره اغیزه کوي ځینو

پوهانو په دغه برخه کښې بیلې بیلې لارې تعقیب کړیدي او ډیري عجیبې نتیجې ئې لاس ته راوړي دي حتی ددغو تجربو دتطبیق په اثر ډیرو حیوانانو خپل اصلي تشکل له لاسه ورکړیدي یعنې (ناقص الاعضاء) زیږیدلي دي او یا یوه عضوه ئې په غیر طبعي ځای کښې تشکیل شوی ده.

دطبیعي محیط تأثیر په ساکښانو کې :

پورته تغیرونه هغه تأثیرات دي چې دخلکو له خوا په مصنوعي ډول په ساکښانو کښې منځته راغلي دي خو هغه تغیرونه چې دطبیعي محیط له خوا په ساکښانو کښې منځته راځي (دمحیط دقانون) پنامه یاد شوي او داسې تعبیر کیږي (هر ژوندي شي باید خپل ژوند دمحیط د

ژوند سره برابر کړي) یعنې خپل روش او عمومي حالت دخپل محیط بدلون سره سم عوض کړي او په دې توګه خپل ژوند ته ادامه ورکړي .

(ډاروین) دغه تعدیل او بدلون ته (تنازع للبقا) وائي او هغه (دژوند په لار کښې دکوشش) کولو قانون بولي.

نور په ٩ مخ کې

د امریکائی کیهان نورد «اندرس» په قلم:

د «انډیوال» ژباړه:

بشر به په آینده کښی د فضا نوردۍ په لار کښی څه ډول مبارزه وکړی؟

د ۱۹۶۸ کال د سامبر په ۲۱ نیټه د امریکی اتمه اپولو فضا ته وتوغول شوه، د الومړنی فضائی سفر ؤ د اتمی اپولو فضانوردان په دغه تاریخی سفر کښی امریکائی کیهان نوردان فرانك بورمان، جیمز لاول او ویلیام اندرس شامل وو.

بورمان په دغه سفر سره په دوهم فضائی سفر کښی ګډون وکړ او داد لاول دریم سفر ؤ خو اندرس لومړی ځل سفر کاوه، هو فضائی سفر د حقیقت له مخه د تعجب او حیرت وړ دی.

د اتمی اپولو د فضائی سفر شهرت په ټوله نړۍ کښی خپور شو دغه کیهانی بیړۍ مځکی ته تر راګرزیدو پوری لس ځله د مځکی پرشاوخوا راوګرزیده.

تر یو څه مودې وروسته د امریکی د جمهور رئیس ریچارد نکسن په غوښتنه اندرس د کیهان نوردۍ څخه لاس واخیست د امریکی د ملی فضا نوردۍ د هیئات د آمر او هم د فضا نوردۍ په چارو کښی د نکسن د مشاور په حیث مقرر شو.

په دغه مقاله کښی اندرس د فضا نوردۍ د آینده په باب خپل نظریات څرګندوی:

شل کاله د مخه چی زه هم نوی ځوانی ته رسیدلی وم هیڅ وخت می فکر نه کاوه چی یوه ورځ به په فضائی بیړۍ کښی کښینم او د دوو تنو نورو ملګرو سره سپوږمۍ ته ولاړ شم، په هغه وخت کښی د فضا نورد کلمه نه وه وضع شوی او په هغه ورځو کښی دغه ډول چاری یواځی په علمی او تخیلی داستانو کښی یا دیدلی او د خوب و خیال جنبه ئې درلوده خونن د بشر هغه خوب د حقیقت بڼه غوره کړه.

موږ په خپل فضائی سفر کښی نه یواځی د سپوږمۍ پرشاوخوا راوګرزیدو بلکی په سپوږمۍ کښی پلی شولو او ځینی ستاسو څخه چی دغه مقاله لولی امکان لری چی په آینده کښی نورو کروته ولاړ شی او په دې ډول به هغوی هم زما په څیر خپلی آرزوته ورسیږی.

زموږ د نسل د پاره په سپوږمۍ کښی پلی کیدل د فضا د تسخیر د مقدمې په حیث دی. ښائی تاسو لومړنی کسان اوسی چی په نورو کرو کښی به په ژوند کولو دسترس پیدا کړی، زه اوس په صحیحه توګه نه پوهیږم چی په آینده کښی څوك نورو کروته په ورتلو بریالی کیږی او آیا په نورو کرو کښی ژوند وجود لری که یه؟

خو د نجوم یوه نامتو پوه ډاکتر (هارلډ شاپلی) اټکل کړی دی چی د یو سل ملیونو ستورو په حدودو کښی د ژوند کولو وړ دی، دی وایی:

تصور مه کوی هغه ستوری چی موږ په هغه کښی ژوند کوو یواځنی ستوری دی چی د هستی په عالم کښی شته زه هم د دغه پوه د نظریی سره موافق یم، زه پوهیږم چی ډیر ځوانان شته چی په دې هیله دی چی یوه ورځ فضا نورد او یا په فضائی چارو کښی واردشی او زه د هغو سره خبری کوم، غواړم هغوی تشویق کړم، داسی ځوانان شته چی په دغه عجیب او نوی علم کښی څیړنه وکړی، باید زیات کوشش په کار واچوی، د هوستون په فضائی مرکز کښی: اتمی اپولو د الوتنی د پاره په منحنی توګه ۲۳ کاله کوشش وشو، څوك چی وغواړی په دغه هکله فضائی علوم مطالعه کړی په اوله مرحله کښی باید ریاضیات او علوم وڅیړی، البته زه د ادبیاتو اجتماعی علومو او بشری پوهی منکر نه یم او پوهیږم د مخه تر دې چی فضا ته ولاړ شو باید د مځکی چاری وڅیړو خو د هغه چا د پاره چی د فضائی علومو شوق او مینه لری هغو ته ریاضیات او ساینس لومړی درجه اهمیت

ولری، فضائی خیرونکی نشی کولای دمحیط، دطبیعت او دمځکی دکرې دتنه حقایقو څخه بې خبره وی.

کوم وخت چی خپل د زده کړی سوابق رایادوم هیله کوم چی دوباره عمرمی دلوڅ دای او اوس دهوائی سن وای او دسوتونه پهمتوجه وای او کارمی کولای، یولایق زده کوونکی باید دسوتونه دطوطی پهشیر زده نه کړی بلکی باید دمطلبونو حقیقت ته داخل شی او هان پهوپوهوی څوچی حقایق ئی له دماغ څخه ونه وزی.

گرانو هوانانو! تاسو داسی پوهی ته اړتیا لری چی د عمرتر پایه پوری ستاسو د ذهن شته منی زیاته او سرشاره وساتی او دغه پوهه پهفضائی علومو پوری منحصره نهده بلکی هر کار او شغل چی موغوره کړیدی تاسو زده کړی ته ضرورت لری.

وگوری هر څومره چی د ژوندذیات گړی دربانده تیریږی، هیڅ دسوتونه چی یه پوونځی کښی وایاست ستاسو پهفکر اهمیت نلری خو پهدغه حقیقت نه پوهیږی چی دعلومو مطالعه ستاسو دحافظی سره مرسته او هغه تقویه کوی.

دژوند دوی نوری چنبی دتوجه وړ دی: یو اخلاق او بل د بدنی نیرو دلودل، دغه دواړه دژوند څخه د گټی اخستلو اساسی شرط دی او تاسو چی پهآینده کښی هر کسب غوره کوی خو که وغواړی پهفضانوردی کښی شامل شی دغو دوو مهمو قکوته پام ولری.

زه په۱۹۶۳ کال فضانوردشوم، پهمغه وخت کښی زه یو مهندس او دامریکی پههوائی قواؤ کښی دپیلوټی دفن یو لارښوونکی وم، دهغه وخت څخه چی دپولیسو دآتا له پوهنتون څخه فارغ شوم، زما له همصنفیانو څخه یه سلو کښی ۲۵ هوائی قواؤ ته ولاړل، پهمغه وخت کښی دهوائی قواؤ پوهنتون نهؤ او که تاسو غوښتلای چی پیلوټ شی، لکه څرنگه چی ماغوښتل او بریالی شوم داسی څرگندیدله چی پههوائی قواؤ کښی شاملیدل بهترین موقعیت ؤ.

لهمغه لومړی ورځ څخه چی زه د فضانوردی کار ته داخل شوم ماته مشکله وه چی دا ومنم چی یو وورځ به سپوږمی ته ولاړشم، اصلا دغه موضوع دباور وړ نه وه. خو پهمغه وخت کښی ددغه موضوع پههکله ډیری خبری کیدلی او ما ویاړ کاوه چی ددا سی کار ذپاره قاکل شوی یم.

هرڅه چی مې د جمینی او آپولو پروگرام مطالعه کړ، زیات معتقد شوم چی موږ کولای شو په۱۹۷۰ کال په سپوږمی کښی پلی شو، عیناً یا هغه ډول چی پخوانی جمهور رئیس جان اف کینډی ئی پیشبینی کړی وه.

یو له هغو آوازو څخه چی د کیهان نوردانو پههکله شته دی دادی چی خلك وایی کیهان نوردان دمجسمی پهشیر د صنعت دلاس لو بونی دی چی حرکت ئی پههغه ماشین تړلی دی چی فرمان ئی پهلاس کښی لری، حقیقت دادی کیهان نوردان یو دبل سره سیالی کوی خو دغه رقابت تهپهوظیفه کښی دخالت نه ورکوی، هغوی پوهیږی چی کیهان نوردان باید خپل کوشش پهگډه پهکار واچوی.

یو آرتیست غواړی قول ویاړنی ځان ته وگټی او د هنر ځلانده ستوری شی، پداسی حال چی یو کیهان نورد باید خپل کوشش د نورو سره پهگډه وکړی څوچی وظیفه ئی سرته ورسیږی.

دغه موضوع د۱۱ اپولو دیوه پیلوټ میشل کولینز پههکله صدق کوی، میشل دکلمبیا دکپسول لارښوونه کوله چی پرسپوږمی راوگرځی نو پهمغه وخت کښی پهخپله پهکپسول کښی پاته شو او نیل آرمسترانگ او ادوین الدرین پهسپوږمی کښی پلی شول.

میشل البته میل درلود چی خپله وظیفه دغو دوو تنو سره بدله کړی خو هوستون د فضائی مرکز څخه خبر ورسید چی پهمغه کښی کښی پاته شی چی دسپوږمی پرشاوخوا راگرځی او دغه کار د۱۲ فضائی کښتی پههکله وشو (دبك گوردون) پهکښتی کښی پاته شو بیتر کوفراد او الن بین پهسپوږمی کښی پیاده شول.

دفضانوردی دموفقیت راز:

پهعمومی اذهانو کښی دفضانوردی پههکله یو بل غلط تصور موجود دی او خلك خیال کوی، فضانوردان هیڅکله نه ویریږی، زه خیال کوم باید دویری او اندیښنی ترمنځ فرق وکړو، ویره ددې باعث گرځی چی فضانورد

اصلا خپل کار ته دوام ورنه کړای شي خو اندیښنه داسي لمسونکي عمل دي چي موږ په ښه کار کولو باندي مسلط کوي.

دیوه فضانورد له نقطه نظره که هغه وپوهیږي په کومه وسله سامبال دي او په هغه باور ولري که پخپل قدرت او توان معتقد وي

ویره ئې له منځه ځي، خو اندیښنه ورسره وي، دا ځکه انسان له هغه کار څخه چي نه ئې وي کړي او نه پوهیږي چي پای ئې څه ډول دي

په اندیښنه کښي وي په تیره بیا په کیهاني چارو کښي چي دومره ډیري مهمي او خطرناکي دي، که ما پخپله پدغه هکله اندیښنه

نه درلودای متعجب به وای، خو ډیر دمخه دساترن توغندي زه فضا ته بوتلم او پدغه فضائي سفر کښي ؤ چي ما د ځان سره وویل

چي دخطرونو څخه هر کلي ارزښت لري، ما فکر کاوه چي د ځان کورنۍ او هیواد دپاره ویاړ ګټم.

هغه وخت چي تاسو فضا ته د تلو دپاره چمتو کیږي مسلمه ده چي دفضانوردۍ په پروګرام کښي به زیات تغیرات راشي، اوس به

تاسو دجیټ پیلوټ یاست چي په آینده کښي فضانورد شي.

پدغه ورځو کښي چي موږ د فضائي عصر په درشل کښي یو، هره ورځ دزیاتو موفقیتونو شاهد یو

په آینده کښي یو فضانورد باید مهندس، فیزیک دان، مځکي پیژندونکي او دعلم الحیات پوه

وي، داسي تعلیمیافته کسان کولای شي فضا تسخیر کړي او لدغه کبله دي چي وائي صحیح

تعلیم او تربیه دفضانورد په هکله زیات اهمیت لري.

ژر مثلا په ۱۹۸۰ ع کال کښي به ۵۰ تنه فضانوردان وروزو

البته مجهز آزموینځي به زموږ په اختیار کښي وي، موږ رسیدلو

متخصصینو ته اړتیا لرو چي په توغندیو کښي کیهاني سفرو کړي او په فضائي چارو کښي تکړه وي

د نړۍ په هر ګوټ او حتي د

امریکي په متحده ایالتونو کښي داسي تنقید کوونکي شته دي چي وایي: څله د امریکي دولت

دومره زیاتي پیسي په فضائي چارو او پلټنو لګوي؟

موږ د ٤ څخه تر ٦ بیلیون ډالرو پوري د کاله په فضائي

پلټنو لګوو خو دغه پیسي تر هغو لګښتونو کمي دي چي دلوبو په

سامانو او ورزشي چارو خرڅیږي زه فکر کوم فضا ته سفر او دستورو د نړۍ کشفول د نړۍ والو ډپاره ډیره ګټه لري، مثلا هغه خاوري

او ډبري چي نیل آرمسټرانګ او آلدرین د سپوږمۍ څخه راوړي مطالعه شوي او ثابته ئې

کړه چي دغه خاوري دنباتاتو رشد دوه برابر کوي.

آیا د سپوږمۍ په خاوره کښي داسي شیان موندل کیږي چي دنباتاتو په رشد کښي اغیزه لري؟

ددي پوښتني ځواب مثبت دي او موږ کولای شو چي د سپوږمۍ له خاورو څخه په کیمیاوي کود کښي کار واخلو او دومره زیات حاصلات او غلي به لاس ته ځني راشي چي دهغو پیسو او لګښتونو جبران به وکړي چي په فضائي چارو خرڅي شویدي.

که څوک زما څخه پوښتنه وکړي چي آیا غواړم سپوږمۍ ته بیا ولاړشم باید ووایم پدي کار ډیر خوښ یم دا هغه هدف دي چي ما پنځه کاله پدي لار

کښي هڅه وکړه، که زما څخه وپوښتل شي چي د سپوږمۍ پرشاوخوا به زه د ګرزیدو تر منځ لکه څرنګه چي په اتمه اپولو کښي سرته ورسید او یا د مځکي

پرشاوخوا دګرځیدو څخه لکه څرنګه چي په نهمه اپولو کښي منځ ته راغی کوم یو غوره کړم، زه د مځکي پرشاوخوا

راګرزیده خوښوم، کوم شي چي زه د حقیقت له مخه دهغه د اجرا کولو میل لرم د مځکي پرشاوخوا ګرزیده دي، دا

ځکه مځکه زموږ دوطن ستوري دي هر کله چي دهغه پر ګرد چاپیر راګرزم بیلي بیلي منظري وینم خو په سپوږمۍ کښي دغه حالت نشته.

ما د سپوږمۍ پرشاوخوا دګرزیدو په وخت کښي ډیر شیان لیدلي دي خو د مځکي په هکله کافي معلومات نه لرم او زیات مشاهدات مي نه دي کړي.

ځیني وختونه چي په واشنګټن کښي دخپلي اداري څخه راووزم، سپوږمۍ ته ګورم او خپل ځان چي څومره هغي ته

نژدې یم د خلکو څخه جلا ګڼم، زما شخصي وضع اوس غیر له هغه څخه ده چي دا تمي اپولو تر مخه وه، سپوږمۍ داسي ملګري دي چي موږ باید ټول وپوهیږو

پاته په ۱۰ مخ کښي

دکتور رشیدی منشی یار:

دوړو کو دجشن مفهوم

ښکاره ده چی نننی کوچنیان دهیواد دسباورځی ځوانان دی او ددوی تعلیم او تربیه ددوی په راتلونکی ژوند کښی ارزښت ناک نقش لوبوی .

چی په دې باره کښی یو شاعر څه ښه ویلی دی :

دهقان سالخورده چه خوب گفت با پسر
ای جان من به جز از کشته ندرود

همدغه سبب دی چی دنړۍ مترقی هیوادونه په دغه ارزښنا که حقیقیت پوه شوی او دیوې پیړۍ راهیسی دکوچنیانو او نورو ځوانانو تربیی ته جدی توجه شوی او هم یو شمیر ټولنی او تشکیلات منځ ته راغلی دی .

په تیره بیا دنړۍ تر دوهمی جګړی وروسته دیونیسیف مؤسسی په بین المللی سویه په کار لاس پوری کړی او په پرله پسی توګه یی له هغه ځایه څخه مستحقو هیوادو ته څه ددواؤ، طبی وسایلو، حمل ونقل وسایلو، شیدو، صابونو او نورو شیانو دلیږلو له لاری او څه ئی دمشاورینو دلیږلو او فیلوشپانو دورکړی له لاری پرله پسی مرستی کړی دی .

چی ددغی مؤسسی دغه عام المنفعه پر له پسی مرستی دقدر وړدی .

موږ چی نن په ټول هیواد کښی د وړو کو جشن کوو باید ملتفت اوسو چی له دې جشن څخه منظور یوازی تفریح اوساتیری نه دی بلکه دهغه مفهوم دادی چی دیوې خوا دوړو کی لوړ مقام ته په اهمیت قایل . او د کوچنیانو حقوقی حیثیت محترم وګڼو، او دهغو په روزنه او پالنه کښی توجه وکړو څو لایق او پاک نفسه ځوانان هیواد ته وړاندی کړو او دبل پلوه دوړو کو دجشن دورځی په نمانځلو سره داعانی په ټولولو دروزنتون مالی بنسټ ټینګ کړو . ځکه روزنتون دهیواد والو لپاره د وړو کو په باب خپل ټول پروګرامونه په تش لاس نه شوای کولای چی مخی ته بوزی .

البته دمرستی کولو دمقدار اندازه به زموږ دبشردوستی په حس او ملی غرور باندی مربوط وی چی بیله شکه دافغان قهرمان ملت ددغسی مرستو کولو په باره کښی خپل امتحانونه ورکړی دی، ځکه هر وخت چی داعانی خبری منځ ته راغلی دی دخیر غوښتلو بږغ ته ئی په ډیر ښه نیت لبیک ویلی، او هرچا دخپل وس سره سم لږ او ډیر مرسته کړی ده .

مرسته او اعانه که څه هم ډیره لږ او ناڅه وی خو دحقیقی مفهوم له نګاه څخه ډیره عالی، او په دې فحوا چی له قطری، قطرې څخه سیند جوړیږی غوره کار دی .

زه په دې وخت کښی دوړو کو دجشن له کبله د هیواد ټولو وړو کو ته که نروی که ښځه، د زړه له کومی مبارکی وایم او په دې آرزو یم چی دوی ټول په ژوند کی په موفقیت، سر لوړی او ښه نوم سره اوسی .

(آمین)

(د ۵ مخ پاته)

محیط او دهغه ...

«سپنسر» وائی دژوند مفهوم هغه دوام داره تغیرونه دی چی د محیط دتغیر او دهغه سره د توافق له امله پخپله پخپل ځان کښی پیدا کیږی په بل عبارت لازمه ده چی هر ژوندی شی دمحیط دتغیر سره سم استعدادولری او په دې توګه دمحیط دتغیر په مطابق ژوندو کړای شی که څه هم دمحیط د عواملو سره مقاومت نه شی کولای او یا په ځان کښی تعدیل نه شی راوستلای نو دداسی کسانو مخ دضعف پرخواوی او په پای کښی له منځه ځی دپورتنیو کرښو څخه داسی معلومیږی چی دهر ساه کښ ژوندون دمحیط سره اړیکی لری او محیط پر هغه تأثیر کوی او کله کله دده تأثیر هم پر محیط لویږی .

دعبدالصمد نصرخواه ژباړه :

قیام الدین «کشاف»: د کابل نه رالیږنه:

دین د اجتماعی ژوندانه د هوساینی ضمانت کوی

څنګه چی انسان یو اجتماعی مخلوق او د اجتماعی ژوندانه د تامین او ښه کیدو لپاره یو لړ داسی وسایلو ته اړتیا لری چی وکولی شی د هغو په لاس ته راوستلو سره خپل ژوند په هماغه شان چی هیله لری پرمخ بوزی نو دې ته مجبوریږی چی د خپلی مادی غریزې په پیروی سره د ګټو د ترلاسه کولو او د تاوان د مخنیوی په لار کښی هڅه وکړی خو دا چی ټول انسانان د فکر، تدبیر، علم پوهی د هیلو د تشخیص او مربوطو حقوقو د ژوندی کولو په باب یو شانته نه دی ځینی دومره چټک او چالاک دی چی د خپلی جزئی ګټی د لاس ته راوړلو په غرض نورو خلکو ته ډول ډول پلمی او بهانی جوړوی او له هغه سره خپل دوستان او مسلمانان ورو ډه ترقی، حقوق ئې تر پښو لاندی کوی، عزت ئې پایمالوی، ظلم پری کوی، مال ئې خوری خو مقصد چی د ده په عایداتو کښی زیاتوالی راشی او ځینی نور له خپله ځانه څخه د تاوان د لیری کولو په غرض نورو مسلمانانو ته تاوان اړوی ژوند ئې په خطر کښی اچوی په سرنوشت ئی لوبی کوی خو چی زیانمن نشی او له خپله ځانه څخه خطر بچ کړی چی په نتیجه کښی د ټولنی ترمنځ یو لړ جنجالونه او شخړی پیدا کیږی، د اجتماعی ژوندانه بنسټ د نړیدو له خطر سره مخامخ کیږی امن او آرامی له منځه ځی نو د دې لپاره چی په ټولنه کښی ګډوډی او بی نظمی پیښه نشی هوسا او نیکمرغه ژوند ور په برخه شی یو لړ داسی قوانینو ته اړتیا احساسیږی چی وکولی شی د انسان مادی غریزه د اعتدال په حال کښی وساتی او د ټولنی غړی دې ته مجبور کړی چی په خپلو عملونو کښی نه تر حد تیری غوره کړی او نه کمی، د اخلاقی او اجتماعی مفاسدو مخه ونیسی د ظلم، تیری، د درواغ ویلو خیانت، ټګی، بی ناموسی په عوض صداقت، امانت داری، پاکی ترحم، عدالت، انصاف، حیا او داسی نور سپیڅلی خویونه منځ ته راوړی تر خپلو ځانی ګټو اجتماعی ګټی ښه وبولی هغه څه چی ځانته خوښوی د بل مسلمان لپاره ئی هم خوښ کړی، او هغه څه چی پخپله کر که ځنی کوی او د ځان لپاره ئی مناسب نه ګڼی د بل د پاره ئی هم مناسب ونه ګڼی چی د غه ډول جامع او د ژوندانه متضمن قانون نور په ۱۲ مخکښی

(د ۸ مخ پاته)

بشر به په آینده کښی...

چی هغه ښه ترا وپیژنو.

وروسته له هغه چی زه د یو ولسمی اپولو دالوتنی د پروژې د خدمت کوونکو یو جزء وم جمهور رئیس ریچارد نیکسن زه د امریکی د ملی فضانوردی د هیئات د مشر په حیث وټاکلم، اوس هم پیلوټ یم نه فضانورد، که څه هم بیا به سپوږمی ته ولاړ نشم خو د خپل هیواد د راتلونکو فضائی سفرونو په پروګرامونو کښی به مرسته وکړم او دا کار به د هغه فضائی سفر سره یو شان ګڼم چی ما سپوږمی ته وکړ.

دا ډول مبارزې زما خوښی دی، یوه داسی ورځ به راورسیږی چی ځینی له تاسو دی ته راوبلل شی چی د دغه نړۍ په پرمختګ کښی برخه واخلی چی موږ په هغه کښی ژوند کوو، پدغه هکله کوم بهترین نصیحت چی زه باید تاسو ته وکړم هغه دا دی چی:

فضانوردان دغه راز کار او فداکاری ته چمتو دی او تاسو دا ډول فداکاریو ته ملاوی وتړی، زه غواړم د ځوانانو د مرستی د پاره د راتلونکی نړۍ د چمتووالی په غرض د یو روزل شوی روح او بدن تاکید وکړم دا ځکه که په فضا کښی وی او که پرمځکه د همدغی ډلی څخه دا ډول توقع کیدای شی.

(پای)

الحاج حبیب الله (سرپاس):

د مزار شریف د روضی کوترے

تاسو ته به معلومه وی چی حضرت شاه ولایت مآب علی کرم الله وجهه د کوفی په مسجد کښی زخمی او د روژې د مبارکی میاشتی پر ۲۱ نیټه شهید شو او په نجف کښی ایښول سوی دی بیا د مؤثقو روایاتو او معتبرو کتابو او مثبتو مأخذو په استناد د امام جعفر صادق (رض) په صلاح او مشوره ابو مسلم خراسانی چی د بلخ پاچاؤ په (۱۲۹) هجری قمری کال کښی د نجف څخه را نقل کړ او د خیران په کلی کښی چی اوس د مزار ښار دی ایښول شوی دی وروسته بیا په (۵۳۰) کښی د سلطان سنجر سلجوقي په عصر کښی هغه ټول سندونه او وثایق چی د ابو مسلم خراسانی له خوا د دغه مبارک د راوړلو په نسبت لیکل شوی وه د مروي د ښار په دار الاماره کښی پیدا شول سلطان سنجر د ډیرو لښکرو او نذرو سره پخپله مزار شریف ته راغی او یوه لویه ګنبده ئی د رخامو څخه پر جوړه کړه او په (۸۸۵) کښی سلطان حسین میرزا د (۹) زرو عسکرو سره چی مولانا عبدالرحمن جامی، مولینا حسین واعظ کاشفی او مولینا سمیع الدین او مولینا ملین علیهم رحمه ورسره ؤ مزار ته راغی او لوی عمارت ئی پر جوړ کی او تولائي سید تاج الدین ته چی د خواجه عبدالله انصاری له اولادی څخه ؤ ورکړه بیا د هغی زمانی راهیسی د ډیرو پاچاهانو له خوا نور تعمیرات هم شوی دی چی آخری تعمیر ئي یو لوی ښائیسته مسجد دی چی زموږ د متدین پاچا معظم همایونی اعلیحضرت له خوا جوړ شوی دی او ساری نه لری.

د حضرت علی کرم الله وجهه راوړل د نجف څخه بلخ ته ډیرو کتابو لیکلی او تصدیق کړی دی چی دا کتابونه په مختلفو زمانو کښی د معتبرو عالمانو او فاضلانو له خوا تصنیف شوی دی او د سږ کال د اوقافو د مجلی په لومړنی ګڼه کښی لیکل شوی دی.

(۱) تحمة الکرام علی شیر قانع ۱۷۰ پاڼه دوهم جلد.

(۲) ضیاء المرفه د ریاضی د رسایلو څخه ۵۲ پاڼه

(۳) بحر الاسرار د امیر محمد کتاب دار د ملاولی زوی.

(٤) زبدة الاخبار د ابو حسن شعری کشمیری.

(۵) حبیب السیر د اخوند میر هروی ۳۱ جزء ۲۳۸ پاڼه ۳ جلد.

(٦) منتظم ناصری ضبع الدوله ۷۸ پاڼه جلد ۲.

(۷) تذکرة المشایخ بلخ د محمد صالح ورسجی.

(۸) اکابر دین.

(۹) تاریخ کثیره صفحه ۱۱۲ د تاشکند طبع.

(۱۰) حد الاقایم د الله یار عثمانی ۳٦۱ پاڼه.

(۱۱) مرآة البلدان ناصری ضبع الدوله ۲۵۸ پاڼه لومړی جلد.

(۱۲) روضة الصفا خاوند شاهی ۷ جلد صفحه ۳۲ پاڼه د تو الکشور چاپ.

(۱۳) روضه الصفا ناصری ۷ جلد ۱۹ پاڼه د تهران چاپ

(۱٤) حجة البیضاء د محمد مرید ۱۸۳ پاڼه د بمبئی چاپ.

(۱۵ مؤلفه محمد مؤمن بلخی.

دغه رنګه مجلی او ورځپاڼی چی په دغه موضوع باندی په مختلفو ایامو لیکل شوی یا لیکل کیږی دا په یقین سره موږ ته راښئی چی دی مبارک په بلخ کښی پروت دی

د شاولایت مآب د روضی په سبب د مزار شریف نور عمرانی وضعیت هم تر پخوا ډیر ښه شوی دی یعنی د روضی شریفی پر شاوخوا باندی د ګلانو ښی ښی باغچی، چمنونه، سړکونه، د اوبو حوضونه، فواری، د برق اوږده څراغونه، نور جشنی ګروپونه په مختلفو رنګو سره د شپی لګیږی او نوی نوی عصری دوکانونه، مغازی، پارتمانونه، تجارتی سرایونه په نوی طرز د پخو خښتو او سمیټو څخه جوړ شوی او د دغو ټولو په منځ کښی د شاولایت مآب دوی لوئی لوئی شنی ګنبدی او د روضی

عبدالرزاق «پالوال»:

بست که لښکر گاه؟؟؟

دمنځنی هلمند پرختیځه غاړه باندی یو کوچنوټی ښایسته او عصری ښار جوړ شویدی او نور هم د پراخیدو په حال کښی دی .

دغه ښار په نومو کښی بې نومه دی یعنی یو ټاکلی او ثابت نوم نه لری، کله ئی څوک بست بولی، ځینی ئی بیا کله د لښکر گاه پنامه یادوی او نور بیا کله کله لښکری بازار ورته وایی.

که څوک په دغو کسانو پسی څراغ واخلی نو به تر هر نامه لاندی یوه خاصه ډله خلك ومومی، ځکه نو په ځینو نقشو، کتابو او نورو لیکنو کښی کله دغه ښار بست، کله لښکر گاه او کله بیا لښکری بازار کښل شوی وی .

دغه راز د نومو گډوډوالی، او بې ثباتی او هغه هم په لیکنو کښی د افکارو تیت و پرك والی راولی چی دوې اغیزې ښندی، یوه دا چی که لوستونکی په واقعیت خبر وی نو ئی لیکلی خواتوری کوی، که ئی سرؤ ښکر ځنی ورك وی او پدغه بینظمی خبر نه وی نو هغه لوستونکی داسی گمان کوی چی دغه درې بیل ځایونه دی یا داسی چی په درو بیلو زمانو کښی په بیلو نومو دغه یو ځای بلل شویدی . ددې لپاره چی له دغی نقیصی او عیبه څخه مو دلمنی ټپلی پاك شوی وی نو زه غوښتنه کوم چی د تاریخ او ننني غوښتنو په روڼا کښی د پورتنیو درونومو ټول اړخونه وڅیړل شی او نتیجه ئی چی په ټاکلی ډول سره به د یوه نوم ایښوونه وی، بیلو خپریدونکو او نورو مربوطه مؤسسو ته وروړاندی شی چی په وروسته کښی ئی مراعات وکړی.

لومړی به زه پخپله پدغه برخه کښی څه ولیکم، ددې لپاره چی زما لیکنه معتبره او مؤثقه وی نو په لوی لاس د اسلام دائرة المعارف Encyclopedia of Islam څخه کار اخلم چی د س ج سورول تو ماین ئې له ډیرو بیلو او مفصلو لیکنو څخه یوه لنډیزه وړاندی کړیده .

بست په واقعیت کښی نن یو مړ ښار دی چی د هلمند او ارغند (۱) درودو د گډیدو په زاویه کښی پروت او تر خپلو خاورو لاندی ښخ دی « د دغه ښار لومړنی آبادی او جوړښت فو لکلوری قصی لری خو واقعی زمانه ئې یا له تاریخه څخه ورکه یا هغه تاریخ پخپله ورك دی. دغه د لومړنی بنیاد غروړی به مو هغه مهال وخیژی چی دارکیالوجسټ په یامه ئی د ابتدائی آثارو مخ ورلڅ کړه شی.

عرب جیوگراف لیکونکی ددی یادونه کوی چی بست یو لوی اقتصادی مرکز لا څه بلکه د بین النهرین او هندوستان تر منځ تجارتی کړی وه .

دوی دا هم کښلی دی چی په بست کښی ډیر علمی او ادبی فعالیتونه روان وه او ډیر پوهان ئی روزلی وه . دغه جیوگرافران د بست میوه لرونکی او د خرماؤ ونی او ډیر انگوری باغونه یادوی چی اوس ئی البوشاکه لانسته.

د پارتیانو په زمانه کښی لا بست موجود ؤ ، ساسانیان او د زابلستان هپتالیان (ابدالیان-حبیبی) پر بست باندی جنگونه سره کړیدی.

په ۲۹ هجری کال چی ۵۰-۶۴۹ع کال کیږی عبدالرحمن د ثموره زوی بست فتح کړ او د حضرت عثمان (رض) د خلافت جزء ئې وگرځاوه پداسی توگه چی پخپله ښار نیول شوی نه ؤ خو مالیه ئی ځنی اخیسته .

---

(۱) اکثره داسی لیدل کیږی چی لیکلی وی د ارغنداب رود ، مگر دغه تکرار دی ځکه چی ارغنداب-ارغند او رود سره دی یعنی آب-رود دغه راز تکرار په نورو نومو کښی هم لیدل کیږی لکه دریای هریرود یا د مرغاب سیند .

دلومړنی هجری پیړۍ په دوهمه نیمائی کښی دمسلمانانو له خوا څخه بست پوره او یو مخیزه ونیول شو، حتی له دغه ښاره څخه دشاو خوا ځایونو شهزادګانو (زنبیل شاهان) په مقابل کښی جنګی استفاده کیدله.

امویانو دبست دلرنی او ساتنی لپاره ددغه ښار په شاوخوا کښی څو جنګونه کړیدی. دعباسیانو په زمانه کښی عرب حکمرانان وبست ته لیږل شویدی څو دسجستان (سیستان) یاغیان وکوټی، د پردیانو یا خارجیانو مخ ونیسی او دکابلستان له حکمرانانو سره خبری اتری یا جګړه وکی.

دبست له واقعاتو څخه چی مؤرخینو په خاص ډول سره ثبت کړی دی یوه د ابن اشعث یاغی کیدنه ده چی وروسته دمعن بن زائده شیبانی له خوا څخه وکوټل شو، پخپله معن هم په ۱۵۶ھ ۷۷۳ع کال په بست کښی وژل شویدی.

یعقوبی کښلی دی چی دبست سیمی په دارائی کښی له خراسانه سره سیالی کول. دبست له کلاؤ څخه چی نښی او آثار ئې تراوسه پوری سته، ددغه ښار دجنګی او دفاعی ټینګوالی اهمیت ښکاریږی.

دصفاریانو (۱) په زمانه کښی بست دیعقوب دلیث د زوی ترلاس لاندی ؤ. له دغه ځایه څخه ئی له ختیځو سلطنتو سره جنګونه کول. پدغه لړ کښی ئې کابل هم په ۲۵۷ھ ۸۷۱ع کال کښی ونیوی، کله چی به ئی وختیځو سیمو ته سفر کاوه هم به له بست څخه ورروانیدی.

بستوالو دخراسانی دربار له سامانیانو سره سخت جنګونه کړیدی، سامانیانو له ډیری زمانی څخه زیار ایستی چی پدغه سیمه او ښار کښی منګولی ټینګی کی. دغه راز دبست مړونه دبغداد د خلفاؤ له لښکرو سره جنګیدلی دی او ځانونه ئې دتل لپاره نه دی بایللی، څو هغه ؤ چی په ۳۶۶ھ ۹۷۶ع کال کښی ئې غزنوی سبکتګین کمبله ورټوله کړه او دسیستان له مرکز زرنج څخه ئې روابط پرې کړه شول. تر دغه وروسته بست دغزنویانو فرعی مینه او ټاټوبی ؤ.

دمحمود به امپراتوری کښی دبست وشمال ته یوه عسکری کلا جوړه شوه، په هغو وختو کښی المقدسی دغه دسپاهیانو کلا دالعسکر په نامه ثبت کړیده. نورو عربی مؤرخینو او جیوګرافیه لیکونکو هم دغه راز العسکر یاده کړیده، مګر دغه پخوانی العسکر بیا فارسی لیکونکی مؤرخین دلښکرګاه پنامه سره بولی.

څنګه چی لومړنی مسعود د العسکر په جنوبی اړخ پوری په بله نوی کلا کښی د ځان لپاره دپاچهی قصر جوړ کړ چی له دغه وخته د غزنویانو فرعی یا ژمنی پایتخت وګرځیدی. له دغه سره سم نو بست نور اداری مرکز نه بلکه یوازی یو تجارتی ښار ؤ چی سوداګر به ورتلل څنګه چی دعسکرو لپاره په لښکرګاه پوری ځینی دکانونه جوړ شویدی نو ئې د هلمند او سیدونکی تراوسه پوری له دغه پلوه څخه پدغه نسبتاً مدنی نامه سره لښکری بازار بولی.

په لښکرګاه کښی دغزنویانو لښکر پراته وه، دغو له یوې خوا څخه د بست اداری قدرت له منځه یوړ چی پخوا به ئې څه وخت وروسته ترنیونی ښورښ کاوه او خپله آزادی به ئې بیرته اخسته له بلی خوا څخه لښکرګاه د غزنوی امپراتوری ساتنه کوله، هم ئې غربی تیری شنډول او هم ئې پدغه سیمه کښی دځائی قوت پرورښت واژه. په نتیجه کښی ئې ټول نیولی وطنونه ترلاس لاندی ساتل. مثلاً سربیر، پر بست ئې غور، داور او زرنج ترلاس لاندی وه او هم ئې د سلجوقیانو ته په ۴۴۱ھ (۵۰-۱۰۴۹ع) پدغه سیمه کښی مساته ورواړوله چی ترمخه ئې څو پلانور هم ددغی اولجې د نیولو قصد کړی ؤ خو پرشاوهل شوی وه.

په ۵۴۴ھ (۱۱۴۹ع) کال کښی غوری علاءالدین بست او لښکرګاه واړزول چی ځینی برخی یې ونړیدلی، بست ته دونه تاوان ورونه رسیدی خو لښکرګاه له دغه وخته څخه مخ پر ځوړ او نزول پیل نور په ۱۸ مخ کښی

---

(۱) له بست څخه نږدې سل کیلومتره کښته، د درویشانو په پای کښی د هلمند پر ختیځه سهیلی غاړه باندی یو بل مړ ښار سته چه د برجسته قالبی نقشو کلالی لری او ما بل چیری نه ده لیدلی، دغه کنډوالی او ورځرمه کلی ئې دځایانو له خوا څخه د سپار پنامه یادیږی.

د ننګرهار نه راليږنه: همراز ننګرهاري:

وږمه

زړګيه! نوی خيال نوی فکرو کښی لټوه
د نوی ژوند وږموته - پټ رازونه ويښوه
چی وځيږی د خيال، غوټی زړه ډک له حسرتونو
نسيمه! شين سهار کښی دا ګلونه نځوه
د مينی په دنيا کښی چی د راز او ناز محفل وی
محبوبی! دې صحنه کښی په اشنا نظر کوه
نظام د کائناتو کښی هم بل شانتی غوغاده
دا زوږ، شور او غوغا وائی - ژوندون اوس بدلوه
دا زوږ، راته ښکاريږی چی د نوی ژوند تحفه ده
زلميه! پاڅه! پاڅه! خپل ارزو پوره کوه
هر څه دی ښکلی شوی د قدرت په منظرو کښی
نسيمه! دا وږمی دښت او رغو کی ګرځوه
همرازه دا تحفه کړه وړاندی پيغلو او زلموته
د ژوند خوږو نغموته ځوان خيالونه خوښوه

د نور وادب: د هاينه اثر:

هر چا وځورلم!

ځينو په خپل عشق کښی وځورولم،
ځينو په کينه زما زړه آزار کړ،
د عشق په زهر وئی زما ډوډۍ ولړله.
چا زماد، ميو په پياله کښی د کينی
زهر واچول.
مګر له هر چا نه زه هغه چا ډير
وځورولم چی نه ئې کينه راسره
پيدا شوه او نه مينه.

ای دلداره:

زما ترانی ټولی په زهر ولړلی دی،
ولی به نه وی لړلی، آيا تا زماد
ژوند په جام کی زهر توی نه کړه.
زما ترانی ټولی په زهر ولړلی دی
ولی به نه وی لړلی، آيا زه په خپل
زړه کښی په زرور ماران نه لرم؟
آيا له دغو ټولو مارانو نه علاوه
ته زما په زړه کښی ځای نه لری؟
ای زما دلداره!

ولوب ګلونه

تهيه کوونکی انډيوال

د سلکيسون د مجله نه ژباړه:

څله؟

څله ځينی کسان زما سره مينه نه لری؟
زه باران او د ځنګله لطافت خوښ لرم.
او اوريځی په نيلی آسمان کښی.
ښکلی مرغی...
ښايستی پيشانی...
وړوکی سپيان..
مست او ځپاند رودونه چی په لمر کی ځليږی.
د پسرلی په وخت کښی دا رغوان ګلونه
پسونه چی په شنه دښت کښی يو په بل پسی منډی وهی.
د شکر سيبونو خوږ خوند.
او بږدی ښکلی جامی او د ناويانو شوخی سترګی.
او شيدی خوړونکی کوچنيان.
دا څله ځينی کسان زما سره مينه نه لری؟

حاجی محمد (څارو)

څارو، وائی ګټه ښه ده

چی وی ګټه

چی د قام په غوښو جوړوی هاديوال
خدای دی نکړی د خاوند کور په سمبال
چی د کونډو يتيمانو او ښکی توی کړی
خدای دی دی هم ځنګوی د غم په ټال
پر غريبو چی ئې من په درې تمن کړ
شی ککړه دې په زهر وخوله د جوال
د مزدور په مزدورۍ چی تندی تر يو وی
کی د لوږی مری اته تنه عيال
(څارو) وائی ګټه ښه ده چی وی ګټه
نه د جيبه څه په غلا د انډيوال

عبدالله بختانی :

دشاعر مسلک

زه نه خان یم نه ملک یم نه با داریم
دخوارانو غریبانو خدمتگاریم
باداری او غلامی می نه ده خوښه
دشلم قرن زلمی یمه بیداریم
پیسی نه غواړم وطن نه خرڅوم
دادب او دخدمت سرمایه داریم
دا وطن دالویه خاوره ګڼم خپله
هسی نه چه کوم ورکوټی زمینداریم
نه می سرچاته ټیټ شوی نه می سترګی
خود په هسکه غړی ګرزم کلا نکاریم
مالیدلی د جهان تودی سړی دی
له جندری ځنی وتلی دروز ګاریم
زه چی ځان او جهان پیژنم نو ځکه
خود شناسه، حق پرسته او خودداریم
آزمویلی په څو واره زمانې یم
دکام مخکی امتحان تلاتیاریم
په میدان دننګ او نام کی بختانیه !
شکر دا چی پیغور نه یم افتخاریم

دنور وادب: ژباړه:

قبر او ګل

قبر سره ګل ته وویل !
ای دعاشقانو ګله !
هغه دا وښکو څاڅکی چی هره شپه دچرغږ او سحر
له سترګو ستا په ښکلی بڼه راتوئیږی ته ری څه کوی ؟

ګل وویل :
لومړی ته را ته ووایه !
هغه چی ته ئی هر وخت خپلی ګیډی ته ننباسی څه ورسره
کوی ؟

قبر وویل :
ګله ! زه له هری اروانه چی ماته یی سپاری پرښته
جوړوم او آسمان ته یی لیږم .

ګل وویل :
قبره ! زه دغه اوښکی ورو ورو دعطر او عسلو په
صورت تبدیلوم او خلکو ته یی ورکوم .

(هوګو)

سلیمان لایق : نوی شعر :

دشګو کور

څه دژوند دماشومانو آرزو ؟
چی سپیرو خاورو کی غورسی وهی
له تشو شګو ماڼی جوړوی
ګټی را باسی او ستمی وهی

✡ ✡ ✡

دغه دشګو ناتمام کورونه
توان دسیلاو او زلزلو نه لری
دا توری خاوری او دافانی باغونه
ارزښت دجنګ او ددعوو نه لری

✡ ✡ ✡

ای دکو څو خورو ورو ملګرو !
راځی ؛ چی نوې لوبه سازه کړو
دغه شګلن کورونه ونړوو
ځان له دې لوبو بې نیازه کړو

✡ ✡ ✡

راځی ؛ چی هیلی څه رنګینی کړو
راځی ؛ چی نوی ترانی ووایو
دزمانی په دې زړو غوږو کښی
دژوندون نوی افسانی ووایو

✡ ✡ ✡

مګر ای دشګلن کورو ملګرو
له دې ویریږم چی ناښاد به شی ؛
د زمانی د توفانو مخی ته
که نوی فکرونه کړی بربادشی

دی راغی

دی راغی زما څنګ ته کښیناست مګر زه ویښه
نه شوم، آه هغه خوب څه بدمرغه ؤ زما لپاره ذلت ؤ .
دی راغی هغه وخت چی شپه آرامه او چپه چپتیاوه،
دده په لاس کښی بربط ؤ چی په خوږو نغموئی زما خوب
ونازاوه .
افسوس زما ټولی شپی ولی داسی ضایع تیریږی .
آه زه ولی تل دهغه چا دیدهیروم چی دهغه په ساه زما
خوب خوږ او خوندوردې .

(ټاګور)

د علاقو او سیمو پېژندنه:

غلام فاروق «انورزی»:

درهٔ نور

د درهٔ نور سیمه د کندهار ولایت د خاکریز د ولسوالۍ د نیش په علاقداری پوری اړه لری

او د کندهار د ولایت د شمال لویدیځ په ۷۰ کیلومترۍ کی د سمسور غرونو په منځ کښی پرته ده چی لویدیځ لورته ئې د شاه ولی کوټ د کوتل بادام غرنۍ سیمه او جنوب لویدیځ خواته ئې د شاه مقصود د غرونو لړ او د پاچ لوی کوتل واقع دی د شمال لورته ئی د درهٔ نور وادی، انور آباد او نور کلی پراته دی.

درهٔ نور لکه چی د نوم څخه ئی څرګندیږی رشتیا هم دغه غرنۍ سیمه د طبیعت د ښکلا په خاطر نور لری. دا یوه ژوره او سمسوره دره ده چی لوی غرونه چارچاپیره پر راګرځیدلی دی.

او به او هوائی: دا دره د یو لړ سمسورو شیلو او هسکو غرو په منځ کښی د جنوب نه د شمال په لور پرته ده او شاوخوائی د کپچه مار په ډول غرونه را تاو شویدی، دا غرونه د روزګان او د شاه مقصود د غرونو لړ دی چی زیاتره غرونه ئی سمسور او په طبیعی ځنګلو کښی پټ دی. د دغه درې د اوبو سرچینه د اولیات بابا د غرو څخه ده او د دغی درې د اوبو سره د یو لړ لویو او کوچنیو چینو نوری او به هم ګډیږی او د ډبرو او لاښو په منځ کښی بهیږی چی په ځینو ځایو کښی د لوړو لاښو څخه مخ پر شیوه د شر شرې په ډول پر لویو ګارو او تیږو باندی توئیږی. کله کله چی باد ورسره ملګری شی نو د اوبو د شرهاری او ږوږ هیبتناکه آواز له هری ګوښې څخه اوریدل کیږی

د درې منځ او شاوخوا لوړی او ژوری د غره د بادامو په شنوونو پټی دی، د دری د چینو او به چی په کانی ځایونو کښی تیریږی خوږې روڼی اویخی دی.

پدغه سیمه کی د ژمی په موسم کی هوا سړه وی او وره پکښی او رای و د دوبی په موسم کی برابره هوا لری، کله کله چی کال آباد وی او د پسرلی په موسم کښی ښه باران نه وشی نو د شاوخوا غرونو او شیلو څخه د باران اوریدلو له امله او به زیاتیږی او د پسرلی په موسم کښی زور ورسیلاوونه هم راځی د درې په منځ کښی د اوبو څخه کوچنی او لوی ډنډونه جوړ شویدی چی په هغو کښی ماهیان هم پیدا کیږی.

د غرو پیداوار: د دغی سیمی په غرو کښی د غرو دونو بادام او خنجك چی موږ ورته شنې وایو د غره انګر او زیره چی اقتصادی ارزښت لری، شکمپاره، سریښ، خاکشیر، ګنچه، د ژرګی کنډوری، ګنتی، نغوره او پښی پیدا کیږی.

کانونه: دغه دره پر دوو برخو ویشل شویده چی څه ناڅه دوه ویشت پیچه د غرو په منځ کښی تاو شویده، د درې لومړۍ برخه ئې چی ختیځ لورته ئې د کوه غټو د سپینو ډبرو شیله او جنوب لویدیځی لورته ئې د ولګی کوتل واقع شویدی د وچی درې په نامه یادیږی او پدغه سیمه کښی کانونه شته، هغه وخت چی د کندهار په ولایت کښی لومړی ځل د «موریسن» کمپنۍ د کجکی او دهلې د بندونو د جوړولو کار شروع کی نو د کجکی د سړك څخه ئې د دغی سیمی د کانو د پلټنی د پاره یوه لار جوړه کړه، پدغه سیمه کښی د اوسپنی او سربو لوی لوی کانونه شته چی سرب ئی د دغه سیمی او شاوخوا خلك په ځانګړی ډول استحصالوی پیازی لال هم پدغه سیمه کښی پیدا کیږی. د امریکا ئی کان پیژندونکو را وروسته شوروی کان پیژندونکی هم دغی سیمی ته د کانو او صنایعو د وزارت د ګرځنده ډلو سره راغلی او څو ځلی ئی پدغه سیمه کښی د کانو په

خه کښې پلټنې کېږدی او ویلی
دی چې بدغه سیمه کښې د مسو
کانو امکان هم لیدل کېږی.

د لرغونو آثارو نښې:

د درنود به سیمه کښې زموږ د
ر آن هیواد د پخوانی تمدن ځینې
ی لیدل کېږی او له هغو څه
سی څرګندیږی چې دغې سیمې
وخت زموږ د هیواد د برم څخه
ه مدنیت تیر کړیدی په درنود
ر کښې د ډېری پخوا زمانې بخې
ښتې چې د اوسنیو پخو خښتو په
سبت ډېر توپیرلری پیدا کېږی
هم په ځینو سیمو کښې خاورین
ښې د کیندلو یادګرځنې دپاره
شاړو مګکو د آبادولو په وخت
کښې د خاورو څخه د روتلې دی
غه لږ کښې تیر کال د درنود په
کلی کښې به کوم ځای کښې د دغه
کلی یو مخور حاجی ګل «ایوبی»
خپله کرونده کښې د ودانی
پاره د تاد او د کیندلو په وخت
کښې یو خاورین لوښی چې سرلی
لی ؤ وموند ، کله چې حاجی
ګل «ایوبی» د خلکو به مخکښې
د دغه خاورین لوښی سرلخ کړ
څرګنده شوه چې بدغه لوښی کښې
پخوانی سکې وې نو دغه منور او
وطندوست ځوان سمدستی دغه
خاورین لوښی چې ۲۹۶ دانې پخوانی
سکې پکښې وې د خپلې مربوطې
ولسوالۍ به سلسله د کندهار د
ولایت مقام ته د تحفې په توګه
ور کړی چې وروسته بیا د ولایت
د مقام د هدایت په اثر دغه سکې د
هیئت په مخکښې د کندهار د
اطلاعاتو او کلتور لوی مدیریت
موزیم ته وسپارل شوې چې د روسته
بیا د کندهار د موزیم له خوا دغه
سکې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت
محترم مقام او د موزیمونو لوی
مدیریت ته واستول شوې ترڅو چې
د دغو سکو تاریخ او ډول معلوم
کړی. د موزیمونو لوی مدیریت
د خپلو هېڅو نو په نتیجه کښې د دغو
سکو نوشتې معلومې کړی وروسته
ترهغه څرګنده شوه چې دغو سکو
د ګران هیواد د غوری او غزنوی
پاچاهانو په دورو پوری اړه
در لودل.

د لویو شخصیتونو قبرونه او زیارتونه:

په درنود کښې
د لویو روحانی او اجتماعی
شخصیتو زیارتونه هم ستنه چې د
هغو د ډلی څخه یو هم لوی شیخ او
د اجتماعی لوړ شخصیت خاوند
(اکونیکه) زیارت دی چې د
نومورې روحانی او مجاهد شخص
نوم او یادونه د درانی تیمور شاه
په کتاب کښې شویده.

دوهم لوړ او مجاهد شخصیت
چې د روحانی ستر مقام خاوند ؤ
د ملا عزت الله آخند زیارت دی چې
نومورې عالم د اعلیحضرت
تیمور شاه د مشهوره وزیر شاه-
ولی خان بامیزی د نیکه ګانو
څخه دی.

ترافیکی چارې:

به دې
وروستیو کلو کښې د حکومت د
انکشافی پلانو له مخې د روزګان د
ولایت نوی سړک چې به د درنود کې
تیر شویدی د روزګان او کندهار
د ولایتونو ترمنځ دغه نوی سړک
د پخوانی لارې په نسبت ۴۵ کیلو
متره لنډ دی. پخوانی سړک به د
ژمی او پسرلی په موسم کښې د
بارانو د اوریدلو په نسبت د
ترافیکو د تګ اوراتګ لپاره
زیات مشکلات پیښول دلاری د
خرابې له امله به هر وخت موقوفه
چې کیدل چې خلکو ته به ئې هانی
او مالی زیانونه رسول. د کندهار
او روزګان د ولایت نوی سړک
چې به د درنود کښې تیریږی او س
ئې کار د کندهار د ولایت د فواید
عامې د مدیریت له خوا د کار د
قواؤ به مرسته جاری دی چې د کار
زیاته برخه ئې سرته رسیدلې او
اوس ترافیک به آسانی سره بر دغه
لار تګ اوراتګ کوی، نوی
سړک چې د ارغنداو د سیمې څخه
تر درنود پوری غزول شویدی د
ارغنداو څخه تر درنود پوری
د دغه سړک ختیځه خوا د شاه ولی
کوټ به ولسوالی پوری اړه لری
او د دغه سړک لویدیځه خوا بیا د
خاکریز به ولسوالی پوری تړلی
ده چې د دغه سړک جوړیدل د نوموړو
دوو سیمو د خلکو د اجتماعی ژوند
لپاره زیات اقتصادی ارزښت لری.

د طبیعی ځنګلونو ساتنه:

د درنود د درې د شاوخوا غرو د
طبیعی ځنګلو د ساتنې او ځارنې
به باب موږ د حکومت او کرهنې
او بولګولو د وزارت پاملرنه
(نور به ۲۹ مخ کښې)

بست که لښکرگاه

وکی. که څه هم دغوری حکمرانانو له خوا څخه ئې قصرونه بیرته جوړ شول چی پخپله دوی او وروسته بیا د خوارزم شاهانو حکمرانان پکښی اوسیدل.

سره له دې، ښار بیا هم ولاړؤ او په ټولو هغه جنګو کښی چی وروسته پیښ شول د پناه ګاه او ژغورنی ځای شمیرل کیږی د ښار وروستنی ودانی او موجودیت پر نورو شواهدو سربیره دیو شمیر وژل سوو کسانو د شنختو (د هدیری ډبرلیکونه) په وسیله ثابتیږی. دغه کسان د شپږمی هجری (د وولسمی عیسوی) پیړۍ په پای او د لومړۍ هجری د یرلسمی عیسوی پیړۍ په لومړۍ نیمائی کښی وژل شوی دی. د دوې لقبونه د مهمو کسانو دی چی بیله شک او شبهی څخه ئې قدرت په لاس کښی ؤ مګر په لومړی سرکی دینی قوت ور څخه ؤ او په وروسته کښی دنیائې او سیاسی چی یوازی پر وطنی او ملی اساس باندی ولاړؤ.

د چنګیز د مغلو تاړاک په ۶۱۸ هجری «۱۲۲۱ ع» کښی او د تیمور چپاوونه د اتمی هجری (۱۴ عیسوی) پیړۍ په پای کښی د بست سیمه او تمدن ویران کړ. د او مالی تشکیلات ویجاړ او د کرهڼی مځکی ایله او متروکی سولی. سره له دغه لا بیا هم مغولو پخپله د ښار له کلا څخه د پارس په مقابل کښی استفاده کوله څو هغه ؤ چی بالاخره نادر افشار په ۱۷۳۸ ع کښی کنډوا له ځنی جوړه کړه او پر مخ ئې ونړاوه.

کله چی مورخین د بست یادونه کوی مطلب ئی د بست ښار نه بلکه د هغه ټول شاوخوا ځنی مراد وی دغه د هلمند پر ختیځه غاړه یوه لویه سلسله آبادۍ وی چی او ږدوالی ئی نژدی او وکیلومتروته رسیدی او پسورئی په ځینو برخو کښی دوه کیلومتره کیدی. لښکرګاه د دغی سلسلې ودانیو په ډله کښی شمالی وروستنی او نوی آبادی وه. لښکرګاه په بست کښی د ننه یوه عسکری کلاوه لکه نن چی هره چوڼی دغه راز موقف او موقعیت لری په هره توګه، بست عبارت یوازی له مرکزی ماڼی څخه نه بلکه ټول نور شاوخوا حتی ولایت لا په دغه نامه یادیدی.

له پورتنی بیانه څخه به ښائی چی ښاغلو لوستونکو ته د بست او لښکرګاه لرغون والی، اصالت او ماهیت په مستقیم او غیر مستقیم ډول سره ورځرګند شوی وی خو سره له هغه ئې هم لاندی د صفاتو او ممیزاتو یوه لنډه مقایسه او مقابله وړاندی کیږی چی د دوی په صریحه پیژندنه کښی به ګوندی اغیزه وښندی.

بست:

۱- بست ډیر پخوانی ښار دی چی تاریخ ئی تر اسلام په دمخه زمانو پوری اړه لری، او حتی ودې سی چی د قبل التاریخ دوری وی.

۲- د بست ښار د هلمندیانو د تمدن او رسم ورواج نښه او د دوی د اقتصادی او اجتماعی شرایطو محصول ؤ.

۳- د بست د ښاری ژوندانه له مخی څخه د تمدن ښکارندوی او مدنیت پخپله د پرمختګ او صلح نخښه ده:

۴- ځینو پخوانیو عالمانو او ادیبانو خپل تخلصونه بستی یا البستی ایښی یا ئې لقبونه وه په هره توګه خو دوی په دغه نازیدل.

۵- بست یو تاریخی ټاکلی نوم دی چی دغه یو ساده عمومی بڼه لری.

لښکرګاه:

الف: لښکرګاه یوه عسکری هستوګنځی وه چی په اسلامی لومړنیو پیړیو کښی غزنوی امپراتور محمود جوړه کړه.

ب: لښکرګاه د غزنویانو د عظمت او قوت یا تسلط او حکمرانی ښکارندوی او هم د غزنویانو (نه د هلمندیانو) د امپراطوری محصول وه.

ج: لښکرګاه د زور، جبر، اقتدار، جنګ او وینی تویولو نخښه او ښکارندوی ده چه د آزادۍ او پرمختګ مخنیوی کوی.

د: مګر او سنی رسیدلی کسان چی د هلمند پر غاړه په دغه کوچنی ښار کښی او سیږی هیڅکله نه غواړی چی لښکرګاه یی یا لښکرګایان دی و بلل شی.

ه: مقابل ئی مثلث نمونه دی یعنی د العسکر، لښکرګاه او لښکری بازار په درونومو یادیږی. نور په ۲۰ مخ کی

د ریډرز ډایجست څخه:

د فهمیی بابی ژباړه:

څرنګه د غوماشو څخه

ځان وساتو

پسله کلو څیړنو څخه دا ثابته شوه چی غوماشه د ۲٤ ناروغیو نقلونکی ده لکه ژړی تبه، ملاریا او نور، حشري پیژندونکی د غوماشو په باب داسی معلومات خپروی چی زموږ ډیر کسان دهغه داوریدو ارزولری چی څرنګه د غوماشو د خوړلو څخه ځان وژغورو که تاسو غواړی چی د غوماشو د خوړلو څخه په دوبی کښی ځان وساتی په بازار کښی ډیری داسی دواوی موجودی دی چی غوماشی دفعه کوی، اما کله که تاسی د کوره څخه لیری په مزرعو او دښتو کښی چی د غوماشو ضد کیمیاوی مواد درسره موجود نه وی د داسی یو مشکل سره مخامخ شی د دغه تکلیف په مقابل کښی تاسی څه کوی، فکر وکړی چی ساینس پوهانو پدې باره کښی څه په لاس راوړی دی ؟

غوماشه هم لکه نور حشرات نر او ماده لری، د غوماشو نران قطعاً سړی نه خوری لیکن ډیر ځله د غوماشو د ډیرو اقسامو څخه ښځی غوماشی د دې د پاره چی پرهګیو راشی سړی خوری او وینه ئی زبیښی. د دغه اړتیا د پوره کولو د پاره دوی په عجبه محرمانه نښه سره چی دغه نښه ستاسو د وجود څخه نشئت کوی تاسو پیدا کوی د دغی نښی بندول یو چم دی.

ساینس پوهانو په تجربو سره دا معلومه کړیده چی غوماشی د هغه خلکو پوستونه خوښوی او خوری ئی چی د هغو د وجود د حرارت درجه تر ۹۰ فرانهید درجو لوړه وی د انسانانو د وجود د حرارت درجه فرق کوی په متوسط ډول سره د (۸۷ څخه تر ۹۵ درجو په حدودو کښی وی) دغه د انسانانو د وجود د حرارت د درجی اختلاف دا مطلب څرګندوی چی د دوبی په شپو کښی په بعضو محافلو او ټولنو کښی یوه عده خلك پداسی حال کښی چی د محفل نور خلك غوماشی خوری دوی وایی د تعجب وړده چی موږ قطعاً غوماشی نه خوری.

د حشرات پیژندونکو د څیړنو نتایج: که سړی په هر ولسو دقیقو کښی په سړو او بو غسل وکړی دا د وجود د حرارت درجه کښته راولی او دا رنګه که سړی الکولی مشروبات ونه خوری دا هم د وجود د حرارت درجه کښته ساتی او دغه رنګه که خفیف ورزش ونه کړی البته دا هم د وجود د حرارت درجه کښته ساتی اما برعکس که سړی دومره ډیر ورزش وکړی چی بدن ئی خولی وکړی، پدغه صورت څرنګه چی غوماشی د خولو د بوی څخه بدوړی پر سړی نه کښینی، که چیری تاسو د غوماشو په ځای کښی استوګنه لری خام رنګ، کالی اغوندی ځکه غوماشی لکه نور حشرات بعضی رنګونه تر بعضی رنګو خوښوی تور، تیز سور او آبی رنګونه د غوماشو ډیر اقسام ورجلبوی. سپین، ژړ او خام شین رنګ هغه رنګونه دی چی د دوی ډیر کم التفات ورته کیږی.

دا معلومه سویده چی کولکس پیپن (مروجی خانګی غوماشی) ډوله غوماشی تر خوړلو د مخه پر سړی راټولیږی او تر انسانانو مرغان ډیر خوری (غوماشی مرغان پر هغو ځایو چی په بڼو پټ وی نسی خوړلای بلکه دوی پر پښو او دمشو کو په اخر کښی خوری) د دغو معلوماتو په ملاحظه کله چی دغه د بڼکی حشره تاسو ته درځی که مو په شاوخوا کښی مرغه او یا کوتره وی هغه ته نژدې کښینی دا موهم باید په فکر کښی وی چی د غوماشو بعضی اقسام غواوی تر هر شی خوښوی.

کاربون ډای اکسایډ چی موږ ئی د تنفس په وخت کښی تر خولی را باسو د غوماشو د پاره ښه لارښوونه کوی، عمیق تنفسونه که په رڼا ورځ وی او یا تاریکه نور په ۲۱ مخ کښی

«۱۸۵ مخ پاته»

بست که لښکر گاه

۶- بست یو اسم بامسمی دی. پخوا ئې مصداق یو لوی ښارؤ چی د مدنیت مرکز شمیرل کیدی. خو اوس به هم دغه ښار نوم وی او مدنی چاری به له دغه ځایه څخه پرورښت کوي.

لنډه ئې دا چی بست یو مدنی نوم او لښکر گاه یو مدنی نوم نه دی.

و: ننني لښکر گاه یو اسم بې مسمی دی ځکه اوس هوری لښکری نسته د لښکر گاه یا العسکر پخوانی مصداق یوه د لښکر و یا عسکری کلاوه. کله چی ئې لږ څه بازاری جنبه اختیار کړه نو سمدلاسه لښکری بازار و بلل شو. یعنی یو بازار چی د لښکر و یا عسکرو لپاره وی لکه ننني اردو بازار.

نور قضاوت ښاغلو لوستونکو ته ورپریږدم چی دوی هغه کوچینو ټی ښار چی د هلمند پر ختیځه غاړه ودان شوی دی او په لږو کلو کښی به (که لویدیځه لار پرسپریدله) د زاړه بست تر مرکزی قصره پوری ورا وږدسی په څه نامه و بولی: بست که لښکر گاه ؟؟؟

(د ۱۱ مخ پاته)

د مزار شریف د روضی...

ملحقات او مسجد جامع چی په خاص طرز او اسلوب سره کاشی کاری شوی او د قرآن شریف آیاتونه او تاریخی لوحی پر لیکل شوی دی د یو عالم جلال او عظمت سره ښکاریږی چی د سړی زړه نه غواړی چی یو گړی هم ځنی لیری شی.

د روضی شریفی ختیځ پلو ته یوه لویه او پراخه سمیټی صوفه (تنگاچه) سته چی د کوترو د پاره جوړه شوی ده پر دغه تنگاچه او د هغی پر شاوخوا باندی په زرهاؤ کوتری ناستی دی چی مځکه گرسره نه معلومیږی

دا ټولی کوتری تکی سپینی دی او بل رنگ کوتری په دی کښی گرسره نه ښکاریږی د دغی تنگا چی اړخ ته دلرگیو یو کوچنی دوکان دی چی بږدن خرڅوی. هر سری وار دواره دغه دوکان ته ورځی او یو څه بږدن رانیسی.

وروسته تنگا چی ته ورنژدې کیږی او کوترو ته بږدن پاشی، کوتری په یوه پلا پر دغه سړی باندی هجوم راوړی او پر سر او وږو او لاسو باندی ئې کښینی چی دا د کوترو ننداره هم یو خاص کیفیت لري او هر سړی

یو وار ضرور دغی ننداری ته ورځی او خوند ځنی اخلی او دا کوتری بلکل ډیری حتی په بازار، کوڅو، او کورو کښی لیدل کیږی د مزار شریف په منډئی کی چی هره ورځ غنم، اوربشی، جواری او وریجی خرڅیږی د هری

کوټی په شاوخوا باندی دغه کوتری ناستی دی او د دغو شیانو څخه خورک کوی، په ټوله ښار کی هیڅوک د هیڅ شی څخه د روضی شریفی کوتری نه منع کوی او نه د دغو کوترو ښکار څوک کوی نو دا کوتری په ډیره آزادی سره گرځی او لوړی خیژی او چکرونه وهی حتی د ښار د باندی تر ډیرو لیرو ځایو پوری ځی او بیرته راځی، د دغو کوترو اوصاف دا دی چی هیڅکله د بل جنس کوترو سره نه یو ځای کیږی یعنی خپل نسل نه بدلوی نو ځکه ټولی کوتری سپینی، کوچنی او د یوه جنسه څخه وی، په دوی کښی بل راز کوتره بلکل نه لیدل کیږی لکه د مخه چی مو وویل دا کوتری د مزار شریف د ښار د باندی تر لیرو ځایو پوری په سیلو سیلو الوزی که

چیری کومه صحرائې کوتره یا اجنبی کوتره چی د دوی د جنس څخه نه وی او دوی ئې ووینی چی ښار ته راځی په گډه هغه بیگانه کوتره بیرته شړی چی ښار ته رانه سی نو په دغه نسبت د روضی شریفی ټولی کوتری د یوه جنس څخه دی او بلکل بل رنگ او بل جنس کوتره نه پکښی لیدل کیږی.

د دغو کوترو د استوگنی لپاره د روضی شریفی د احاطی د ختیځ پلو د روازی ته نژدی یوه لویه کوتر خانه د مناری په شان جوړه شوی چی دوی هلته هگی اچوی او چیچان باسی نوری کوتری چی د هگی وخت ئې نه وی په نورو سرایو او کورو کښی ژوند کوی.

(د ۱۹ مخ پاته)

څرنګه د غوماشو څخه...

غوماشی راجلبوی دا چی غوماشی سړی ډیر پرمخ خوری دغه مطلب څرګندوی، ښه داده چی سړی باید په ډیر شدت او قهر غوماشی د ځانه ونه شړی ځکه د ډیر فعالیت په نتیجه کښی د سړی تنفس او د حرارت درجه لوړیږی. که د خوب په وخت کښی د غوماشی د بڼکی د لاسه خوب نسوای کولای پداسی حال کښی چی هغه معلومولای هم نسی چی د اطاق په کمه برخه کښی ده ښه داده چی رویکښ مو پر ځان راکش کړی او آرام استراحت وکړی.

تیر کال دوبی ما دغسی کول سهار به می دوینو ډکی غوماشی پر جالی باندی لیدلی، زه به ئی نه ومه خوړلی مګر زما سپی به ځان ګراوه د دې څخه دا معلومیده چی پر سپی ئی حمله کړی وه.

غوماشی د ګلانو شیره، د میوو او به او شیرینی هم خوری. علاوه پر دې دا هم معلومه سویده چی ایډیز-اجپټی (غوماشه چی د ژړی تپی ناقله ده) ډوله غوماشی ترښځی نارینه ته ترجیح ورکوی. البته دغه حصه د ښځو او نجونو د پاره ښه معلومات کیدلای شی که چیری نجونی او ښځی د دغه ډول غوماشو د بڼه هاری او خوړلو څخه ځان ساتی نارینه ته دی نژدې کښینی.

که تاسو ته د غوماشو جدی مشکل پیښ وی د هم په زمزمه سره د دوی تولیدی دوره خرابه کړی.

دیوه علت له مخی په دوبی کښی ماښام نر غوماشی پر باد پناه لوړو ځایو لکه برجونه د درختو پرتنو او نورو راوتلو شیانو کښینی.

مارټن بیټ د امریکا د میشیګن د پوهنتون حشره پیژندونکی د هم دس په متوسطه زمزمه سره د نورو غوماشو سیل سره پاشانه کړی او د دوی د سیل ساختمان ئی ور خراب کړی او پر ځان ئې راټولی کړیدی او همدغه رنګه وډیرو نرانو غوماشو ته د ډیرو تنګو کش سوو نارو دوهلو په زمزمه سره ئی بازی ور کړی او دوی ئی د ژوند د اصلی کاره څخه منحرفی کړیدی.

سره د دغه بیا هم د دغه امکان شته چی غوماشی دی سړی وخوری، څه پیښیږی که غوماشی سړی وخوری، دوو نفرو حشره پیژندونکو «ډبلیو لم ستن» او «ارګورډن» پداسی حال کښی چی غوماشی د چونګښی په پښه نیښ (شنډک) لګاوه د زره بین په ذریعه ورته کتل، کله چی د غوماشی شنډک د چونګښی پوست ته ننووت د وینی د رګ په پیدا کولو پسی کوږ اوتاو شو. ترماچو او انساجو چی او به ئی درلودی تیرسو کله چی د وینو رګ ته ورسیدی شنډک د خپل اوږدوالی په څلرمه راتاوسو بیا غوماشی د نس د پمپ په ذریعه د وینو په زبیښلو پیل وکړ او د خپل وزن دو چنده وینه ئې راوزبیښل کله چی غوماشه د وینو ډکه سوه د هغی د نس پمپ ودریدی غوماشی په شدت سره شنډک د چونګښی د پښی څخه راوایستی.

لویه غوماشه د خپل فعال او متوسط ۱۷ تر ۳۵ ورځنی ژوند په موده کښی دوې یا درې ورځی وروسته پووار د خوښی د پاره نیښ وهلو او وینو چښلو ته ځی.

هر وخت چی غوماشه سړی خوری یوه اندازه مواد د هغه وجود ته ورتزریقوی چی د دغه موادو له کبله هغه ځای پاړسوب کوی دا نه غوندی معلومیږی او کا کوی.

وجود د غوماشی د خوړلو په مقابل کښی دوه مهم د تخریش عکس العملونه ښکاره کوی: فوری عکس العمل چی سمدستی پسله خوړلو پیښیږی او ځنډنی عکس العمل چی یوه او یا پنځه ورځی وروسته شروع کیږی.

کوچنیان چی د مخه غوماشی نه وی خوړلی نر څو چی ئی غوماشی څو واره و نه خوری هیڅ عکس العمل نه ښکاره کوی په ابتدا کښی دوی ځنډنی او وروسته دواړه ډوله عکس العملونه ښکاره کوی.

هغه خلک چی غوماشی ئی ډیر خوری د غوماشو د خوړلو په مقابل کښی هیڅ عکس العمل نه ښکاره کوی دغه کسان بالاخره د غوماشو د خوړلو د تخریش په مقابل

کښې هیڅ د تخریش عکس العمل نه ښکاره کوي دغه کسان بالاخره دغوماشو د خوړلو د تخریش په مقابل کښې معافیت پیدا کوي. داسې خلك ټول دوبې په ځنګلو کښې ګرځي لیکن دغوماشو دخوړلو احساس هم نه کوي.

نن ورځ د غوماشو دخوړلو د تخریش پرضد پیچکارۍ سته که سړی هغه تطبیق کړي هغه ته د تخریش پرضد معافیت ورکوي چې البته دغه پیچکاري دغوماشو د ځینو ډولو په مقابل کښې تاثیر لري لیکن د بعضو په مقابل کښې نتیجه نه ورکوي.

په نړۍ کښې ۲۴۲۶ ډوله پیژندل شوي غوماشي موجودې دي.

تیرکال د فروري په میاشت یوې لیکوالې ښځې چې د ایډیز ډوله غوماشو په مقابل کښې معافیت درلود بنکاك ته په سفر ولاړه، څرنګه چې هلته دي د بنکاك غوماشو دخوړلو پرضد معافیت نه درلود د تداوي دپاره ډاکتر ته مجبوره شوه.

غوماشي د خپل ژوند لاروا او پیوپا د مراحلو د تکمیل دپاره واوبو ته اړتیا لري. دغوماشو ډیر ډولونه په حوضو، ولاړو اوبو او ولو کښې هګۍ اچوي ځینې ډولونه ئې په هغه اوبو کښې چې لږ لږ د مځکې پرمخ ډم شوي وي او یا هغه د باران اوبه چې په منګیو، ټیمانو او دبلیو کښې ټولې شوي وي هګۍ اچوي، دبلې خوا د تودو سیمو غوماشي د باران په اوبو کې چې د درختو په تنه کښې جمع شوي وي هګۍ اچوي، په تودو سیمو کښې د هغو خلکو دپاره چې د غوماشو څخه په بیره کښې وي که لوړ ځای ته وخیژي دغوماشو څخه نجات پیدا کولای شي.

دمثال په توګه دمبلغینو د ډلې څخه یو سړي چې «برنارډري» نومیدي په تودو سیمو کښې ئې د خپلو مشاهداتو په لړ کښې دا معلومات حاصل کړ چې د تودې سیمې ځایي غوماشي دمځکې پرسر په خاورو کښې ژوند کوي او تر ۱۲ او ۱۵ فټو لوړي نسي الوتلای د دغه معلوماتو په رڼا کښې ددې دپاره چې دي دغوماشو څخه ځان وساتي د خرما پر درخته ئې ځان ته کټ جوړ کړ او په تاریکه به د استراحت دپاره هلته ختي. دا رنګه په ورجن ایلنډ کښې یو نفر ګیاه پیژندونکي دغوماشو دلاسه نجات دپاره د برنډې پر بام ځای اچاوه او ماښام به د استراحت دپاره د زینې په واسطه هلته ختي.

لیکن دا چې په تودو منطقو کښې سړي د شپې پر لوړ ځای استراحت وکړي، د غوماشو د تکلیفه خلاصیږي. په نورو ځایو کښې نتیجه نه ورکوي.

تیرکال په دوبې یوه شپه د (مین) په ایالت کښې ښځې غوماشي فوق العاده ډیري وي چې د بڼهاري دلاسه ئې زه په عذاب سوم و درختي ته وختم. دغو غوماشو زه لوړ پسې تعقیب کړم او نژدې وم چې ژوندي مې وخوري بله ورځ دا واقعه ما خپل رفیق ته بیان کړه هغه وخندل او تشویق ئې کړم چې بله پلا تر دغه وجګې درختي ته وخیژه پداسې حال کښې چې ما لکه لیوني داسې ځان ګراوه جواب مې ورکړ چې په هیڅ صورت دغه ډول نوري تجربې زه نه کوم او همدغه رنګه مې اطمینان ورکړ چې د دغې تجربې پر ځای دا ښه ده چې په یخو اوبو غسل وکړم، ورزش او حرکت ډیر ونه کړم الکولي مشروبات ونه خورم، ساه ونه کاږم او د هم زمزمه وکړم.

د م، ژباړه:

دهنر په باب نظریات

هنر هغه وسیله ده چې د بشر د ژوند او سعادت لپاره په کار وړل کیږي.

د جامعې او فرد انساني وظیفې برسیره کوي د ترقي او پرمختګ لپاره لاره آواره وي او هنر هغه پانګه ده چې د کلماتو له لارې د بشر د زړونو احساسات راژوندي او د ملي خدمت بنیان ګذاري کوي.

(تولستوي)

هنر هغه زیار او کوښښ دي چې د ښکلا د پیدایښت د عالم د سمون او د بشر واقعي اړخونه برسیره او پرملا کوي.

(شاله)

ښکلا هغه ده چې د هنر په ځانګه کښې حقیقت ته ورته وي.

(هوګو)

محمد عظیم هوشمند :

پوهه میندی او یا هغه میندی چی صحی اقتصادی او اجتماعی شرایط ورته برابروی

کولای شی چی سالم او پوه وګړی ټولنی ته وړاندی کړی

که چیری موږ په نړۍ چار ـ چاپیر راوګرځو، خپلی سترګی پراخی پرانیزو، او د خپل فکر احساس مزی ټولنه ته متوجه کړو او د پیدایښت په هکله ژوره کتنه وکړو نو هله به د یو سپیڅلی او مقدس موجود سره آشنا شو، چی زموږ د پیدایښت او ژوند کولو سره نه شلیدونکی اړیکی لری.

دا مقدس موجود مورده.

هو، مورده چی خپل ټول ژوند ئې زموږ د پیدایښ، روزنی او پالنی ته وقف کړیدی، او هر راز ربړو ته ئې خپله اوږه کلکه نیولی ده مورده چی قهرمانان، نوابغ او نړۍ جوړونکی روزی، د کوچنیوالی څخه ماشومانو ته د ژوندانه رازونه بیانوی او د ژوندانه د لوړو او ژورو سره ئې پوره پوره آشنا کوی هغو ته په زانګو کښی د قربانی، په ځان ویسا ځیرک والی، قهرمانی، برابری او یووالی درسونه ورکوی.

دا پورتنی صفتونه د یوې واقعی مور په خټه کښی میشت شوی دی.

موږ ټوله دا هیله لرو چی میندی باید صادق، فداکاره، رښتین او پاک ماشومان وروزی. د دې علمی اصل په اساس هیڅ پدیده په نړۍ کښی باید مطلقه او ځانګړی ونه څیړل شی، بلکه باید هغه د هغی د ارتباطونو او اړیکو سره او د هغه شاو خوا محیط د ارتباط سره یو ځای باید وڅیړل شی نو هله موږ یو صحیح نتیجی ته رسیدلای شو او درست علت د هر معلول ځانته څرګندولای شو، چی دا اصل په هر شی او هره پدیده کښی د تطبیق وړ دی نو که ماشومان د ټولنی مفید او ګټور غړی ونه ګرځی، او بالعکس د ټولنی مضر مکروبونه ځنی جوړ شی، آیا تاسی د دې علت مسؤله یوازی او یوازی میندی بولی آیا تاسی یوازې ګناهکاره مور بولی؟

دا ښکاره ده هغه میندی چی رسیدلی دی، د ماشومانو د روزنی په فن پوهی وی او د ماشومانو د ښه تکامل په چارو کی ښی ماهری وی او اقتصادی ژوند ئی تأمینولای شی نو کولای شی چی ښه اولاد چی د بشپړه شخصیت خاوند وی و ټولنی ته وړاندی کړی.

خو موږ که خپلی ټولنی ته ځیر شو او هغی ته ژوره کتنه وکړ، د میندو ژوند ته تر دقیقی څیړنی لاندی ونیسو د هغوی خواړه او غذا او صحی ژوند له نظره تیر کړو نو به د یو تریخ واقعیت سره مخامخ شو.

زموږ میندی په تیره بیا هغوی چی په کلیو کښی ژوند کوی، ډیر غمناکه او د خواشنی ډک ژوند لری. زیاترو ته ئی وچه ډوډۍ په مړه ګیډه نه رسیږی، کرۍ ورځ تر ماښامه په ستومانه کونکو کارو لګیاوی. له دغه امله دوی د اولاد د روزنی وخت نه لری.

ځینی د شته من نو کری کوی، ځینی بیا په نورو ستړی کونکو شاقه کارو اخته وی، ځکه دوی مجبوره دی چی هر څه ربړ او زحمت چی ورباندی راسی وئې ګالی او قبول ئې کړی بیله دې څخه چی کوچنی ترینه عکس العمل وښیی، او صرف د ژوند پاته کیدلو لپاره مجبوره دی چی چپ واوسی او هر راز کار او زیارته غاړه کښیږدی.

تاسو د خپل ځان سره سوچ وکړی!

آیا داسی میندی په داسی شرایطو کښی کولای شی چی سالم او باثمره ماشومان و ټولنی ته وړاندی کړی؟ آیا سره د دې دومره بې شمارو حقایقو بیا هم تأسو مسؤلیت د دوی په غاړه

✲

✲ اچوې؛ حقیقت دا دی چې د دوی هیڅ په دې کښې گناه نسته، بلکه اجتماعی خاصو شرایطو دوی دغسی په یوه محدود چوکاټ کی ساتلی دی.

دا ثابته ده چې اقتصاد د ټولنی اساس او هسته تشکیلوی، او د ټولنی ټول شیان د دې اصل په شاوخوا گرځی. د عامه ذهنیت په لوړولو، صحیحی ښوونی او روزنی په منځ ته راتلو، صحیحو تعلیماتو به عملی کولو، عامه ذهنیت په لوړولو کښې یو لوی او اساسی رول لوبوی.

که چیری عمومی اقتصاد دیوی جامعی لوړ وی نو هلته هیڅکله د بدبختی، ناپوهی او ناروغی توری بلاوی ځای نسی موندلای.

ماشومان صحیحی روزنی ته اړتیا لری، ماشومان شپه او ورځ کاملې او پوره پاملرنی ته اړدی ماشومان وخندا او خوشحالی ته ضرورت لری، څو هغوی خوشحاله او د خوشحاله روحیی خاوندان وروزل شی. مگر هغه میندی چې شپه او ورځ ستومانه وی، آیا کولای شی چې خپلو ماشومانو ته لږ تر لږه د زړه له اخلاصه یوه خوله خندا او تبسم وکړی؟؛

رښتیا چې یوازی او یوازی اقتصادی، او اجتماعی برابر شرایط کولای شی چې ښه او صالح ماشومان و ټولنی ته وړاندی کړی. هسی ماشومان چې د ټولنی واقعی او رښتین خدمتگاره وی.

نو راسی چې د سالمو، صالحو صادقو، خدمتگارو او فداکارو ماشومانو د روزنی په هیله، د دوی د متکامل شخصیت د منځ ته راتلو په هیله، د ټولنی د واقعی خدمتگارانو د روزلو په هیله، د یو مترقی او پرمخ تللی افغانستان د جوړیدو په هیله او په پای کښې د میندو د حمایی او د صحی، اقتصادی او اجتماعی مساعدو شرایطو د برابرولو په هیله ټوله لاسونه سره ورکړو.

د خارجی منابعو څخه: د انډیوال ژباړه:

ترزغ چټکی الوتکی

د برتانیی او فرانسی دولتونو د نهو کلو را په دې خوا د ۲٫۵ میلیارد ډالرو په لگښت د (کنگورد) په نامه د نړۍ د مسافر وړونکو لویو الوتکو د جوړولو په لټه کښې دی.

د الوتنی او د ښارونو، کلیو او کوڅو د اوسیدونکو د هوسائی موضوع د دغی الوتکی د جوړولو په کار کښې ډیر اهمیت لری.

حقیقت دا دی چې ترږغ پورته د حمل و نقل الوتکه د راتلونکی هوائی الوتکو د جوړولو د صنعت یو لنډموج او یا د نفوسو ډک صنعتی ښارونو د راتلونکی امنیت لپاره یو تهدید دی.

آیا لازم دی چې د جوړیدو او بشپړیدو په هکله ئی بیړه وشی یا دا چې سر له اوسه د هغی د جوړولو په کار کی باید ځنډ وشی؟

نه کاله کیږی چې په اروپا کښې د برتانیې او فرانسی د دولتو له خوا دوه میلیارد او پنځه سوه ملیون ډالرو په اندازه تخصیص ورکړ شوی دی ترڅو چې د نننی عصر د الوتکو د جوړولو د صنعت لویه پدیده د (کنگورد) په نامه د نړۍ بازارو ته وارده شی او د دغی پدیدی څخه د هیوادو لویو او کوچنیو ښارو د نژدې کولو په لار کښې استفاده وشی.

د رسیدلی راپورو له مخی د دغی الوتکی د جوړیدلو کار بشپړ شوی او د هغی د قدرت په هکله مقدماتی ازموینی شروع او د بریالیتوب سره مخامخ شوی دی.

د امریکا په متحده ایالاتو کښې هم د (اس، اس، ټی) په نامه د نامتو الوتکی د جوړولو مقدماتی کار چې په یوه ساعت کښې به ۱۸۰۰ میله لار ووهی پای ته رسیدلی، خو د امریکی کانگرس د دغه ډول الوتکو د جوړولو او د مالی اعتباراتو د تامین په هکله د دولت څخه معلومات غوښتی او معلومه شوی ده چې د کانگرس په اختیار کی به کښیښودل شی.

که چیری خبری اتری څنگه چې شروع شوی همدا رنگه دوام پیدا کړی نو بت به د نیویارک یو تن ځوان صنعت گر ته ورسیږی چې ټوله وړ اطلاعات د کانگرس په اختیار کی کښیږدی.

دا طرح د یوه شپږ ویشت کلن ځوان د یمو کرات له خوا د مانهاتان له ناحیی څخه ترتیب شوی او د دې طرحی څخه غرض دا دی چې د امریکی په لویو هوائی ډگرونو کښې د الوتنی سلامتی تأمین کړی او د ډیرو لویو او ترږغ چټک الوتکو د احتمالی خطرونو څخه مخ نیوی وکړی.

د همدغی طرحی له مخه د نویو الوتکو جوړونکی کارخانی باید په لومړی مرحله کښې د الوتنی سلامتی او د خلکو هوسائی په نظر کښې ونیسی وروسته بیا د دغسی الوتکو په تولید او تهیه اقدام وکړی.

رښتیا خبره دا ده چې (جومبوجت) ډوله ۷۴۷ بوینگ الوتکی ځانونه د الوتنی د سلامتی له مقرراتو او د ښارونو د هوسائی سره هم آهنگ کړی او کوچنی الوتکی هم وروورو ځانونه د دغو مقرراتو سره برابروی ترڅو چې په قطعی ډول د الوتکو د جوړولو د صنعت د پرمختگ سره یو ځای د ښارونو د اوسیدونکو هوسائی او آرامتیا هم تأمین شی.

څه ډول د ناآرامیو سره مبارزه وکړو؟!

هر چا به ژوند کښې خپل یو ګران دوست دلاسه ورکړی دی خو اې کسان لیدل کیږی چې د امریکې متحده ایالتونو د تلویزیون د پروګرامونو د اجرا کولو د مسؤل اولیکوال «ماکس ویلی» په څیر د زیاتو غمونو او خواشینیو سره مخامخ شوی دی.

ماکس ویلی په ۱۹۳۶ کال واده وکړ، ده دوې بیغلې لوڼې درلودې یوه ورځ دده ۲۱ کلنه لور «جانیس» ده ته نژدې په یوه بله کوټه کښې د نیویارک سیټی په اپارتمان کښې په ډیره ناوړه توګه ووژل شوه، په ۱۹۶۸ کال کې ماینه د سرطان ناروغی د پښو واچوله، او تر دې بیښې څو میاشتې وروسته کې بله لور د ذات الریه د ناروغی له کبله مړه سوه.

په دغه ځای کښې ماکس ویلی لیکی چې د دومره مصیبتونو او ناآرامیو سره سره کې څه ډول وکړای شو د اوسنی ژوند سره توافق وکړی:

«هر کله چې د ژوند د سې برې کیدو ته نژدې وی غوټه ورکړی او پر هغه بیرته پورته وخیژی» په بل عبارت ژوند باید دوام ومومی. د روحیاتی او روانی پلوه به د غمسی وختونو کښې تاسو پرته د ژوند له دوام څخه بله چاره نه لرئ، اوس که څه هم به ډیر دردناک موقعیت کښې اوسی د اجتماعی پلوه ستاسو مسؤلیت زیات دی، د هغه ځای چې تاسو د ژوند کولو د پاره هیڅ دلیل ونه لرئ خو بیا هم دې ته اړ یاست چې د خپل شاوخوا اوسیدونکو سره معاشرت وکړئ، اوس که پر دغه رابطه هر نوم ږدی هغسې ئې وبولی مینه، همدردی، جبر او یا تشویش به پای کښې تاسو د نورو د پیوند رشته نشی پرې کولای.

عادی ژوند ته بیرته راګرځیدل یعنی دغمو، د اندیښو څخه ځان خلاصول د بدبختیو سره د مقابلې د پاره یوه ساده چاره ده، لیکن که تاسی هر څونه غم وکړئ ځان ته ډیر زیان رسوی، او که دغه حالت دوام وکړی ستاسو سلامتی بیخی د منځه وړی او تاسو د پښو اچوی.

هر کله چې انسان د یوې سختې اندیښنې سره مخامخ شی په هغه بحرانی ګړی کښې یو کوچنی کار نشی کولای او کوم وخت چې دغسې بدبختی انسان ته مخ کوی، هغه هیڅکله تصور نه کوی چې زما نه بچه چاره کوونکی ده، نو به دغسې حالاتو کښې بهترینه لار داده چې بچه خوله شی، او بر ته د ځان به ناآرامی د بل چا د غم سره حساسیت څرګند نه کړی، خو که غواړئ تر هری ناآرامی لکه ناروغی، د کورنی د یوه غړی مړینه، د وظیفې څخه برطرفی او داسې نورو وروسته برخیلو اعصابو تسلط ومومی باید به یاد ولرئ چې به ژوند کښې مثبتې جنبې هم شته او تاسو باید د هغو به باب هم غور وکړئ، ستاسو ناآرامی که هر څومره زیاته وی بیا هم تاسو به هغه غم کښې یواځې نه پریږدی او تاسو به یو شخص نه یاست چې د دا ډول یوه غم سره مخامخ شوی یاست، د هغه زیات کسان به د دغه ګړی به د دغه ناآرامی کښې ستاسو سره شریک او ملګری دی.

د هوانی لور ترمړینې یوه ورځ وروسته د لندن څخه تلګرافی خبر راورسید چې زما یو صمیمی دوست مړ شوی او ماینې ئې د اخته غوښتې وه. چې د هغه د جنازې او ښخولو به مراسمو کښې ګډون وکړم، تر یو څو ګډیو پورې می د تلګراف کلمې به ذهن کښې نشوای مضمولای خو هر کله چې هغه ورځ تیر شوه. د هغې ښځې د ناآرامیو تصور او داچې به اوسنی حال کښې څه ډول کورنی ګرفتاری هغې ته پیښې وی زه دې ته واړاړه کړم چې

ددې تلګراف ته مثبت ځواب ورکړم، پداسې حال کښې چې په واقعي توګه مې باور نه شوای کولای چې زه به په دغو دوو ورځو کښې ددې وس وموم چې دخپلو صمیمي دوستانو دښخولو په مراسمو کښې ګډون وکړم.

اوس چې تیر شوی وختونه رایاد وم ددغه خبر درارسیدلو ارزښت ته ملتفت کیږم، په هغه وخت کښې چې دزیاتو مصیبتونو سره مخامخ یاست دنورو بدبختۍ دریادول تر یوې اندازې پورې ستاسو غم کموی.

البته ستاسو درد به بیخی دمنځه ولاړ نه شي خو ځان دنورو په غمونو کښې شریك ګڼل ددې باعث کیږي چې ستاسو دشخصي مصیبت غم دې ستاسو له سره یو څه سپك شي.

ددغو ټولو مصیبتونو نه څو میاشتې وروسته ماته مسلمه شوه چې هر څومره ځان دنورو په مصیبتونو او غمونو کښې شریك وګڼو، موږ ته لږ موقع پیدا کیږي چې پخپلو غمونو کښې ډوب شو، اوس زه یو ځل بیا ځان دنویو کسانو سره مخامخ بولم، زما اوسنی ژوند بیرته دیو داسې ګړی څخه شروع شو چې ما تیرو شویو تر خو خاطرو او ناامیدیو ته شا ور وګرزوله او دغم موجونه دمنځه ولاړل.

په تیر وخت کښې زموږ ژوند داسې شور او حرارت درلود چې زه نن دهغو خوږو خاطرو او موفقیتونو په موج کښې باقي پاته یم چې لوڼومې په ژوند کښې هغه ګټلي ؤ زما مطلب هغه موفقیتونه، درسي پرمختګونه او داسې نور دي چې دهغو خاطرې تر اوسه زما په ذهن کښې شته، زما سره دغه خاطرې اوس هم مرسته کوي.

زما پوښتنه د هغو کسانو نه چې د خپلو ګرانو دوستانو سره یو ځای د ژوند کولو څخه خوند اخلي داده چې په اوس حال کښې ئې څه ډول افکارو په ذهن کښې ځای نیولی دی داځکه آرامي خاطرې او د ژوند عادي او ښې پیښې دي چې په راتلونکي وخت کښې د انسان د ژوند هستي تشکیلوي، په اوسنی حال کښې یو اځی دغه تاسو یاست چې باید دژوند ځاه ورو ورو دښو خاطرو څخه ډك کړي.

دغم او مصیبت په وخت کښې هغه ټولې خاطرې دیاده وباسي چې ستاسو غم تازه کوي او خپل محیط بدل کړي او یو بل لور ته ولاړ شي.

په هغه وخت کښې چې زه په ژوند کښې یو اځی پاته شوم لوڼي او ماینې مې خاورو ته وسپارل، په نیویارك سیټي کښې مو خپل اپارتمان پریښود او د نیویارك په ۸۰ میلي کښې بل ځای ته ولاړم او اوس د «هري تیچ» په سیمه کښې په لیکوالۍ لګیایم او تصور کوم چې د ۳۰ کالو تلاښ نه وروسته دښاري ژوند څخه لیري په یوه آرامه سیمه کښې اوسیدل، دنویو مسایلو نویو شیانو، نویو ږغونو او نویو منظرو سره مخامخ کیدل زما دغمګین زړه څخه دغمونو په لیري کولو کښې څومره اغیزه لري.

اوس هر سهار وختي دخوبه راکښینم، دشپې وختي بیدیږم، اوسنی کورمي د سیند پرغاړه دي هر سهار د کښتیو انانو په آواز او د کښتیو په حرکت دخوبه راکښینم او یو څو دقیقې ئې نظاره کوم او خوند ځنې اخلم چې څه ډول پدغه نوي ورځ په کار شروع کوي.

زما په عقیده ځان مشغول ساتل، پر له پسې کار کول او رفیقانو سره معاشرت دلویو غمونو او مصیبتونو بار دانسان له وجود څخه سپکوي.

باید کوښښ وکړو هره ورځ د دوستۍ او رفاقت ځاله پراخه کړو په پخوانۍ روم کښې چې به یو لوی شخصیت ته سخت غم او مصیبت ورسید، صبر او تحمل ئې کاوه او انزوائي غوره کوله، خو اوس هر کله چې یوه ډیره نیکمرغي امریکائي کورنۍ دژوند ټولې آرامۍ دلاسه ورکړي او دنیکمرغۍ پایه ئې ونړیږي بیرته دنوي ژوند اساس ږدي او نوي ژوند شروع کوي.

باید ورځنی کوچنی مسایل هیر کړو داځکه هغه ورځ تیره شوه بیا نه راګرځي او باید په نوي ورځ کښې دافکر وکړو چې دتیري ورځې بدي پیښې راڅخه تکرار نشي او داعمالو په دفتر کښې ښې خاطرې ثبت کړو.

د امریکائی منابعو څخه:

د پیغلی فهیمی ژباړه:

د ساری امراضو مخ نیوی

ساری امراض عبارت دهغو ناروغیو څخه دی چی دمرضی عامل یا توکسین په واسطه دیوه ناروغ حیوان یا انسان څخه ویوه سالم شخص ته په مستقیم او غیرمستقیمه توګه سرایت کوی دی ناروغیونن ورځ جهانی کړ کیچنی راپیدا کړیدی ځکه چی د ټولو ناروغیو تقریباً (۸۰) فیصده تشکیلوی او خصوصاً په مخ په انکشافه هیوادو کی چی سواد ډیر کم دی او خلک دصحی ښوونو سره نااشنادی یوه ساری ناروغی په ډیره آسانی سره په زرو خلک اخته کولای سی ددې ناروغیو مخنیوی د وقایوی اساساتو د عملی کولو په وسیله ډیر ښه کیدلای شی یوه لار دوقایوی تدابیرو څخه ضدعفونی کول دی (ضدعفونی عبارت دهغی عملیی څخه ده چی دناروغی عامل دمخه تر دې چی ناروغی منځ ته راوړی دفزیکی او کیمیاوی عملیاتو په واسطه دمنځه وړل دی) او دا عملیی په لاندی ډول سره کیدای شی.

۱- فزیکی عملیات:

الف: په طبیعی توګه دلمر دوړانګو په واسطه.

ب: په غیر طبیعی توګه، سونګ، تود هوا، بخار ایشول.

۲- د کیمیاوی وسائلو په ذریعه:

الف: د کلکو موادو پوسیله.

ب: او به مواد.

ج: غاز.

اول- د فزیکی عملیاتو طبیعی بڼه:

دلمر دوړانګو په واسطه دمرضی موادو وچول یوه نوعه ضدعفونی ده چی البته خفیفه ضدعفونی باید ورته ووایو ځکه چی دتیتانوس او انترکس دمیکروبو سپورونه تر ډیره پوری ولمر ته مقاومت کولای سی خو ځینی مرضی کوکسونه او باسیلونه دوچیدو په واسطه په آسانی سره دمنځه ځی ددې لپاره چی دا وسیله ښه ترا مؤثره سی باید ناپاکه سامان او اسباب دورځی درې ساعته لمر ته کښیښول شی چی ښه وخت یی د ۱۱ بجو څخه تر ۲ بجو پوری دماپښین دې او تر درو ورځو پوری دا عمل باید دوام وکی.

ب- غیر طبیعی توګه یا سونګ:

بهتر بقه طریقه دضد عفونی همدغه سونګ دی یعنی ناپاکه زړی توشکی، زړې کمبلی، بالښتان کالی او نور چی بې ارزښته وی باید وسوځل شی.

بلغم، نو، او نور افرازات عموماً داری دبورې او ګاسلیتو په وسیله سوځل کیږی.

فلزی شیان لکه چپر کټ او هم دخونی دیوالونه احاطه دآورد لمبی په واسطه سوځی

توده هوا، زیاتره مکروبونه چی ډیر وخت حرارت ته څرمه شی دمابین څخه ځی چی دا طریقه د جراحی سامانونه، ښیښی سامانو لپاره ډیره ښه طریقه ده چی په (۱۶۰) درجی دسانتی ګرید کی سامانونه دوه ساعته بږدی.

ایشول: دا طریقه هم ډیره مؤثره ده بکتریاوی او دهغو سپورونه په نیم ساعت کښی دمنځه وړی دا طریقه دناپاکو لباسو، روی کښانو، دمخ دسملو او دپخلی دسامانو لپاره پکار ده البته وړین کالی ایشیدلی او به خرابوی.

بخار: دا طریقه عموماً تر ټاکلی فشار لاندی په دوه ډوله صورت مومی.

۱- بخار تر عادی فشار لاندی په (۲۱۲) درجی د فارن هایت ۲: بخار چی د پنځو څخه تر پنځه ویشت پونډو فشار لاندی وی، دا قسم ټول مکروبونه ډیر ژر وژنی ځکه چی د بخار د نفوذ قوه ډیره وی او زیاتره لباسونه، بستری دضدعفونی لپاره استعمالیږی.

د بخار ضد عفونی په خپلو سامانو کښی خرڅیږی.

دوهم- کیمیاوی وسائل.

۱- مرکزی پر کلوراید- یوه ارزانه ضدعفونی ماده ده چی د ۱ پر ۱۰۰۰ او ۱ پر ۵۰۰۰ ګاټه والی استعمالیږی

صرف معذوریت ئی دادی چی پر فلز اتو تأثیر اچوی، سخت زهری دی او دالبومینی موادو په موجودیت کښی بی تأثیره دی یعنی دنو، بلغم په مقابل کښی تاثیر نه لری داطریقه د اطاق د فرش، دیوال، لوازم، او چرمی سامانو لپاره پکار یوی.

۲- بقاشیم پرمنګنات:

یوه ډیره خفیفه ضد عفونی ماده ده چی عموماً داوبو، سبزی جاتو او میوو دپاره ۵ پرملیون غلظت استعمالیدای شی، دخاماتو لپاره باید داسی استعمال شی چی دابو د نګ ۲٤ ساعته کلابی وی.

پلیچینګ پوډر:

داماده دپوډر یا پنځه فیصده محلول په شکل استعمالیږی غائطه ماده، بیت الخلا، دیوالونه دښیښی او پخلی سامانو لپاره عموماً دلوی تبی، کولرا په وخت کښی استعمالیږی دچپلو او به (قانکو نه، خاهان، چینی او نو دپاره پنځه پرمیلیون برخه او بو کښی استعمالیږی په کوډکی یو ګرام پنځوس ګیلنه او به ضد عفونی کولای شی یوازی قګران نسو کولای چی ددې محلول په واسطه ضدعفونی کوځکه خرابوی ئی.

بې او بو اهاك یا کلسیم او کسید:

وختی چی او به ورسره یوځای سی کلسیم هایدرو او کسایډ ورکوی چی عموماً دپنځو څخه ترشلو فیصدو محلول په شکل غائطه مواد، بیت الخلاوی، جرونه، د خونی دیوالونه، طبیلی په ضد عفونی کوی.

پارافورم:

دګولی په شکل خرڅیږی او د مخصوصو ځراغو په واسطه چی الفورمانت نومیږی د فورم الدیهایدغاز څخه حاصلوی چی یوه ګولی ئی یو ګرام پارافورم الدیهایدورکوی او شل ګولی ئی دیوه اطاق دضد عفونی کولو لپاره چی ۲۰ مکعب ظرفیت لری کفایت کوی فورم لدیهایدد بخارو قوی ضدعفونی ماده ده چی د بلیچینګ پوډر په نسبت بهتری لری ځکه چی قابلیت د تخریب لکه نوموړی ماده نلری داماده زیاتره په هغو اطاقو کښی چی د کوی مریضان پکښی وی استعمالوی.

کاپرسلفیت یا نیل طوطیا:

عموماً د الجی د وژلو لپاره استعمالیږی ترتیب داستعمال ئی یو یا دوې برخی پرملیون د آب بازی دحوض او قانکو لپاره استعمالیږی په پورتنی غلظت ماهیان نه متضرر کوی او به غلظت دیو برخلو دولکو دلوی تبی باسیل په ۲٤ ساعتو کښی وژنی.

دصابون او به:

عموماً د پوست، جامو، لوښی او نورو د پریولو لپاره استعمالیږی چی په میخانیکی ډول یو ذیات شمیر مکروبونه ایسته کوی دا ماده دخپل قلویت په نسبت ضدعفونی تأثیرهم لری یو اځی ستیفلو کوک، ګونو کوک، پیونوموک وژلای شی مګر پر نورو مکروبو چندانی اثر نلری.

همدارنګه دسکرو دقیر مشتقات دفینول او کریزول دموجودیت په نسبت ضدعفونی تأثیر لری چی په تجارتی بازار کښی دفینول، فینل ایزال، سلین، هیکول او لیزل په نامه خرڅیږی ددې مواد دوصفت لری چی دهغو او بو سره چی معدنی او نمکی مواد لری یو ثابت مستحلب جوړوی

دوهم صفت ئی دادی چی البومینی موادو ته تحشر په ورکوی نو په دې اساس د غائطه موادو لپاره استعمالیدای شی او پرمنسوجاتو چو بی لوازمو یا فلزی شیانو باندی په معمو له غلظت کښی تخریبی اثر نه لری صرف نقص ئی دادی چی په ډیر وخت کښی مرضی عوامل دمینځه وړی.

وقایوی اساسات غیر دضد عفونی موادو داستعمال څخه ډیر دی چی هره برخه ئی یو بحث تشکیلوی البته په ورو سته مضمونو کښی به تفصیل ورکړه شی یوشی چی دلته باید ذکر شی دادی چی یوه نادوغی هیڅ وخت به یوه آن کی سری نه تیښی ددې لپاره چی دمختلفو نادوغیو مکروبونه خپل تأثیر په سالم عضویت کښی وښندی یو وخت غواړی چی داوخت ددوو عاملو سره اړیکی لری.

۱- طبیعت دشخص، اندازه د مکروب، مرضی خاصیت د مکروب.

۲- اندازه دمعافیت دسالم شخص.

نو په دې نسبت دیوې نادوغی تأثیر ښندلو صفحه دبلی نادوغی سره توپیر لری په دې نسبت داوږده او لنډه حده څخه ما بینی برخه منل شویده. په همینو نادوغیو

(نور به ۳۰ مخ کښی)

(د ۱ مخ پاته)

زموږ د خپلواکی ...

ملی یووالی، اجتماعی خدمت، وطندوستی کار او فعالیت په برکت وساتو.

اوس چی زموږ هیواد د انکشاف پر لور گامونه اخلی او په دغه حال کښی چی موږ ستر مشکلات په مخ کښی لرو او په تیره بیا د دوو وروستیو کلونو وچکالی زموږ خلک پریشانه او په تنگ کړی دی موږ ته لازمه ده چی یو او بل ته د مرستی او مهربانی لاسونه ورکړو ټول په دغه لار کښی زیار وباسو او د خپل هیواد د اوسنی دریغ ملاتړ وکړو.

ژوندی دی وی زموږ محبوب پاچا.
مترقی دی وی زموږ گران هیواد

(ایوبی)

(د ۱۷ مخ پاته)

دره نور

غواړو چی دغه طبیعی ځنگلونه چی زموږ د هیوادوالو ملی پانگه گڼل کیږی د انفرادی کسانو د ناوړی استفادې څخه وساتی ځکه اوس په دغه سیمه کښی عمومی سړک تیر سوی دی نو د موټر لرونکو او نورو له خوا د دغه طبیعی ځنگلو د پریکیدو او لوټیدو خطر شته.

(پای)

(د ۱۰۵ مخ پاته)

دین د اجتماعی ...

یوازی اسلام ته ویلی شو، نه بل قانون ته.

هو: په بل هیڅ یو قانون کی دانشته چی که چیری د یوې کورنی غړی د فقر، بیوزلی او داسی نورو ترخو پیښو په نسبت په کړاوو اخته شی او د دوی بډایان گاونډیان چی هیڅ مرسته ورسره ونه کړی او همداغسی یی د خوارۍ پر میدان پریږدی، یوې محکمې ته وغوښتل شی او مجازات دی شی اسلام خپلو پیروانو ته توصیه کوی چی له خوارانو او بیوزلو کسانو سره مرسته او د هغوی لاس نیوی وکړی حتی د اسلام ستر پیغمبر [ص] بی عاطفی بډایانو ته داسی فرمائی: (هغه څوک چه خپله په مړه خیټه خوراک کوی او گاونډیان یی په څنگ کښی وږی وی له سره د کامل ایمان څښتن نه شی کیدای) پرته له اسلام نه په بل یو قانون کی خبری ته ځای نه دی ورکړ شوی چی که چیری یو څوک د خپل دوست یا گاونډی او یا د کلی او کور د ناروغه پوښتنه ونه کړی او همدردی ورسره ښکاره نه کړی د دغو ټولو ناوړو اعمالو لپاره بیلی بیلی جزاوی ټاکلی چی کونکی یی په هغو باندی محکوم کیږی.

پرته له اسلام نه په بل هیڅ قانون کښی د محتکر سود خور لپاره جزا نده تعین شوی خو اسلام دغو د واړو عملو ته په بده ستر که گوری او د دغو د واړو عملونو کوونکو ته له یوی خوا نه په دنیا کښی د ترخه ژوندانه وعید کوی او له بل پلوه خبر ورکوی چی د آخرت په ورځ کی به د پاک خدای د قهر او غضب وړ وگرځی.

پرته له اسلام نه په بل یو قانون کښی دانشته چی یو سړی په خپل مال کښی له اسراف کولو نه منع کړی او مسرف ته مجازات وټاکی خو اسلام مسرف کوونکو ته بدوائی او مسلمان ته امر کوی ترڅو له اسرافه څخه ځان وژغوری همدغه شان نور داسی ډیر مثالونه شته چی پرته له اسلام نه په نورو قوانینو کی ورته ځای ندی ورکړی شوی او په اسلام کښی د اجتماعی نظم لپاره پوره مراعات شویدی.

(پای)

نو مجازات دی شی خو اسلام د ناروغ پوښتنه کول د انسانی او اسلامی حقوقو څخه گڼی او مسلمان ته امر کوی چی د بل مسلمان ناروغ پوښتنی ته ورشی او همدردی ورسره څرگنده کړی.

له اسلام نه پرته په بل قانون کښی دانشته چی د رواغجن، کینه ناک، متکبره، ریاکاره چغل گر، عبث ویونکی او تنبل ته دی جزا ورکړه شی خو اسلام

د الدراسات الادبیه له عربی مجلی څخه:

ژباړونکی «نجیب»:

د ژبو تاریخ او تطور

د هندو اروپایی ژبو اطلاق د لغاتو پر هغو مجموعو باندی کیږی چی له هند څخه تر امریکا پوری خپرتیا لری او ریښه ئې یوه وی حتی د ځینو استرلیائیانو او افریقائیانو په ژبو کښی ئې لاهم بولګه سته د نتیجو د وفرت او تاریخی اهمیت له وجهی څخه د دوی قدر زیات دی.

له هندو اروپایی ژبی څخه دغه ژبی زیږیدلی دی تالی هیتی او نور ملحقات ئې.

هندو، ایرانی، ارمنی، بالتی سلافی، البانی، بندقی، ایلیری یونانی، ترکی، فرنګی، کلتی، لاتینی تخاری (اګنسی، کوچی) جرمنی.

که څه هم دغه پورتنی ژبی بیل بیل فروعات لری لکن ګمان کیږی چی اصل به ئې هندو اروپایی ژبه وی او ټولی به له دغی ژبی څخه زیږیدلی وی

د دغی ژبی شعب په روسیه، منځنی آسیا، او د قزوین بحر پر څنډو باندی او سیدل د دوی د لغاتو له مقاومت څخه تقریباً د یوه واحد اصل ګومان کیږی.

د هندو ایرانی ژبه چی اطلاق ئې پر آریا ئی ژبه باندی کیږی د هندو ایرانیانو او افغانیانو د نیکه ګانو مشترکه ژبه وه چی پوهان ئې سنسکرت او زړه ایرانی ژبه لومړنی ملحقی ژبی ګڼی ایرانی ژبه چی د مځکی د مخ د یوې پراخی ساحی پر وګړو ئې احتوا درلوده په جنوب کښی د خلیج فارس، بحر عمان، به مغرب کښی د بین النهرین ارمنیا په شمال کښی د قفقاز او منځنی آسیا صحراوی او په مشرق کښی د افغانستان او د پامیر د شاوخوا وګړی په ګړیدل او اوس ئې هم په منسوبو ژبو خلک ګړیږی او په یو وخت کښی د دې ژبو ویونکو هومره قدرت پیدا کړ چی خپلی رایجی ژبی ئې په شمالی او شرقی مغولستان کښی خپری کړی د ایرانی ژبی لهجه د تطور دری مرحلی لری لومړی د قدیمی ایرانی ژبی لغات دوهم د منځنی ایرانی ژبی لغات دریم د نوی ایرانی ژبی لغات.

(د ۲۸ مخ پاته)

د ساری امراضو ...

کی لکه انفلوانزا ه تسمم غذائی دا دوره لنډه یعنی په څو ورځو یا ساعتو کی روغ سړی په ناروغی اخته کیږی تو ره غاړه او شری کښی دا دوره د یوې هفتی څخه تر دوو هفتو پوری ده. په جذام ایکتینو مایکوز د لیونی سپی په مرض کښی څو هفتی تر څو میاشتو پوری دا دوره دوام کوی نو کله چی یو سړی د ساری ناروغه سره په تماس کښی سی نظرو ذکر شوی دوری ته تر ډیره پوری باید د خطر اندیښنه وکی او د الازموی چه د قایوی وسائلو څخه استفاده وکی.

د قدیمی ایرانی ژبی لغات:

فقط مشتمل پر دغه قدیمه فارسی او اوستایی وه.

۱- قدیمه فارسی ژبه چی د هخامنشیانو په ډبر لیکنو کښی باقی او په مسماری لیک سره لیکل شوی ده.

۲- اوستایی ژبه چی د ایران په شرقی نواحیو کښی متد او له وه د زردشتیانو په مقدس کتاب اوستا کښی ضبطه ده تاریخ ئې د مخه تر میلاد وشپږم قرن ته رسیږی دا ژبه د اوستا په مخصوص لیک لیکل شوی ده اوستا په یوه زمانه کښی نه دی لیکل شوې بلکه ژبی او کتاب مختلفی زمانی په برخه کښی نیولی دی د قدیمو ایرانی ژبو اثرات د اوسنیو ژبو په لغاتو کښی په ښکاره ډول لیدل کیږی او په قطعی ډول سره له منځه څخه نه دی تللی.

مادی ژبه: د غربی او وسطی ایران د اوسیدونکو ژبه وه چی د مادی پاچهانو په کورنی پوری ئې تعلق درلودی د ماد قوم ذکر په ۸۳۵م کی راغلی او د هخامنشیانو په ډبرینو یعنی حجریه کتیبو کی ئې د ژبی د ځینو عباراتو بولګی لیدل شوی دی د سغدی، خوارزمی سکائی، بارتی ژبو آثار په وسطی زمانه کښی پیدا شوی او د ایران په شرقی برخو پوری تعلق لری

«نور بیا»

عبدالقدوس «صاحبزاده»: د خپلواکۍ د ۵۳ تلین له کبله:

شکر چی افغان یم استقلال لرمه

شکر دی خدایه چی آزاد په جهان یمه زه — په آزادۍ کښی توریالی قوم د افغان یمه زه
په افغانی کښی بیا سپیڅلی مسلمان یمه زه — مسلمانی کښی بیا ولاړ په ټینګ ایمان یمه زه
ایمان کښی غوره د جهان یم دا کمال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

چی خپلواکی نه وی داژوند او سرومال به څه کم — شته او هستی او دارائی مال و منال به څه کم
چی زه اسیر یم معشوقو ښایسته جمال به څه کم — چی زنګیدلو واک می نه وی زلفو ټال به څه کم
که زه غلام بند د زندان یم بدحال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

که می نیولی ؤ بابا توری توپک ته ټټر — یا ئې ورکړی ګوزارونه ؤ دښمن په څیګر
خو بیائې توری او میړانی نه عالم شو خبر — دا آزاد ژوند چی کوو دی ددوی د توری ثمر
زه مستقل او مسلمان یم رزق حلال لرمه
شکردې، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

که د یوې خوا نه آزاد ملی اختر جوړه وم — د شهیدانو په ارواح دغه دفتر جوړه وم
ګلو ګیډۍ زه د هغو قبر په سر جوړه وم — سره بیرغونه ئې په قبر په هنر جوړه وم
د آزادۍ په لار روان یم روح خوشحال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

د بلی خوانه وایم دا آزادی لاړه نه شی — د آزادۍ لوړه ماڼی زما ویجاړه نه شی
هم سرومال زما بایللی پکښی دواړه نه شی — د غلامۍ بده کړۍ راته په غاړه نه شی
باید تیار جنګ ته هر آن یم توره اوډال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

کومه تلین د شهیدانو پکښی وایمه زه — ای لویه خدایه بندګانونه د ستا یمه زه
په سر سرتور درته ولاړ او په دعا یمه زه — په دې دعا کښی می خواهان د مدعا یمه زه
زه د خاوند د تل ایمان یم دا سوال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

د شهیدانو په ارواح دی سلامونه زما — پس له سلامه پسې دادی پیغامونه زما
په پیغامونو کښی می دا دی کلامونه زما — چی دوی ایستلی دی د زړه نه ارمانونه زما
اوس ترقی په لور روان یم جلال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه

خاونده خدایه ظاهرشاه ته عمر ډیر ورکې — ورته صحت او سلامت په زور و زیر ورکې
دده اردو ته شجاعت زمری په څیر ورکې — افغانستان ته هر څه ډیر د حد نه تیر ورکې
(صاحبزاده) نه پریشان یم نه ملال لرمه
شکردی، شکر چی افغان یم استقلال لرمه



دخپلواکۍ څلۍ